مورچل

شپږم کال دوولسمه گڼه، پرله پسې ۵۲ گڼه، دسمبر ۲۰۱۲م

دکابل د چارواکیو بوږنوونکې واویلا !

په ۲۰۱۲ کال کې داسلامي امارت سیاسي او دیپلوماتیکې لاسته راوړنې

افغان عسکر امریکایي تلاشي

اسلام هې څنګه قبول کړ؟

امام زهریؒ؛ ستاره پر فروغ علم حدیث

دعلماوو پر پکړه لیک

خـــاطـــره

باقی ماندن یک عسکر امریکایی هم بمعنی تداوم جنگ در کشور است

دتلفاتو ګڼې جدولونه

دیني مرغلرې

عن عبادة بن صامت رضی الله تعالی عنه قال بینما انا عند رسول الله ﷺ اذ جاءه رجل فقال یا رسول الله أی الأعمال افضل قال إیمان بالله وجهاد فی سبیل الله ، الحدیث-مسند أحمد ۵\۳۱۸ ، مشارع۱\۱۳۸-

ژباړه : له عبادة بن صامت رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی ،چې زه درسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وم چې یوتن ورته راغی ، اوبیایې درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وپوښتل : کوم عمل ډیر غوره ده ؟ پیغمبرصلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: په الله تعالی باندې ایمان راوړل اوالله تعالی په لاره کې جهاد کول

عن أبی هریرة قال قال رسول الله ﷺ افضل الأعمال عند الله تعالی إیمان لا شک فیه ، وغزو لا غلول فیه وحج مبرور..

ژباړه: ابوهریرة رضی الله تعالی عنه فرمایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ترټولو اعمالو غوره هغه ایمان دی چې شک په کې نه وي ، اوورپسې هغه غزا اوجهاد دی چې خیانت په کې نه وي . اوبیاحج مبرور دی

مورچل

شپږم کال دوولسمه ګڼه، پرلپسې 52 ګڼه دسمبر 2012م

میاشتنۍ، علمي، سیاسي او جهادي خپرونه

دمضامینو لړلیک

ګڼه	مطلب	مخ
1	د کابل دچارواکیو بوږنوونکې واویلا.....	2
2	دامارت پیغامونه.....	4
3	په2012ز کال کې داسلامي امارت	11
4	افغان عسکر ، امریکایي تلاشي	13
5	امام زهري رح ستارهء پر فروغ علم	15
6	اسلامي غزوات.....	22
7	اسلام مې څنګه قبول کړ	25
8	باقی ماندن یک عسکر امریکایی هم	28
9	دمورچل دار الافتاء.....	30
10	ذبیح الله " مجاهد" له خپل ولس سره....	33
11	قاضی حسین احمد داسلامي ویښتابه.....	36
12	داسلامي امارت دریځ کتاب ته.....	39
13	نور ستا قضاوت.....	42
14	جنګي جنایتونه.....	43
17	شهیدې قافلې.....	46
18	دایمان شعبې.....	52
19	خاطره.....	59
20	دعوت وارشاد.....	64
21	دعلماوو پرېکړه لیک.....	67
22	میاشتني خبرونه.....	70
23	انځوریز مورچل.....	
24	دمورچل وږمې.....	75
25	د تلفاتو میاشتنی جدول.....	151
26	د2012 تلفاتو کلنی جدول.....	152

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګی چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

شکور (شفق)

کتنپلاوی :

حسن خېل، ایوب صافی،
حسن زوی ، حکمت بغلانی،
زبیر مسافر، حافظ سعید

تخنیکي همکاران :

ارغـــوان ـــ صابر

ادرس اومکاتباتي پته :

پته : کابل ښار څلورمه حوزه
مجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

دکابل دچاروا کیوبورنوونکې واویلا !

له هغې نه وروسته چې ډیری امریکایان او نور اشغالګر داتېر یوولس کاله دمجاهدینولخواووژل شول، سیمه اونړۍ کې یې پوځي او سیاسي اعتبار په ځمکه راولویدا و هیواد کې یې دهمیشني پوځي شتون ارادې دنهیلۍ بشکار شوي ،دادی دکابل غلام رژیم سره یې هم دتلپاتې پوځي شتون امیدونه دتل لپاره ختم کړل اوپه صفاتکیویې ور ته اعلان کړه چې د(۲۰۱۴)ز کال پورې به امریکایي پوځیان له افغانستانه بشپړ وځي اوخپل حربي رول ته به دپای ټکی ږدي .

دامریکادملي امنیت مرستیال سلاکار (روډیس) څخه یوې خبرې غونډه کې پوښتنه وشوه، چې امریکا په(۲۰۱۴)ز کال کې د خپل جګړه ییز ماموریت له پای سره د پاتې کېدونکي ځواک سره په ټراو پر "صفر غوراوي" هم فکر کوي، که څنګه؟ د ملي امنیت دغه مرستیال سلاکار خبریالانو ته وویل: "دابه یو غوراوی وي چې موږ به پرې غور کوو".

دامریکا ددې جګپوړې امنیتي سلاکار څرګندونې پداسې مهال کې رسنیوخپرې کړې چې (کرزی) دامریکاپه دوره ورغلی وو اوددې هیله یې له ځانه سره وړې وه چې خپل امریکایي بادارانبه ور ته ډاډ ور کړي چې له (۲۰۱۴)نه وروسته به هم په اوسني پوځي تشکل هیواد کې پاتې شي او دکابل درژیم دفاع به دپخوا په څیر کوي، ددې سرپیره چې (اوباما او کرزي)په خپله کتنه کې د(۲۰۱۴)ز کال وروسته دامریکایي پوځ په حضور یا خروج څه څرګندونې ونکړي خوددې څخه څوورځې مخکې ددې لوړپوړې امنیتي چارواکې په توګه د(روډیس)خبرې دکابل واکمنو ته هغه ډاګیز پیغام ووچې دکابل چارواکې یې پدې وپوهول چې نورې دبادرانو کډې باریږي اودکابل واکمن به دملت قضاوت ته پاتې کیږي .

رښتیا هم چې داټول مسلمان ولس ته یوښه زیری دی اواسلامي امارت چې ورسره نږدې دوولس کاله دجهاداومقاومت بریالۍ ماضي لري، دیوې شانداړې فتحې پیلامه یا مقدماتي بنسټ یې بولي او یوه سوکاله راتلونکې ته خوشبین دی ،خو له بده مرغه چې دکابل دواک په ګدی ناست پیرل شوي غلامان اوله لویدیځ نه راغلې تکنوکراتان ډیر اندیښمن او غوغایې دهوا له څپونه دنړیوالوغوږونه کانه کړي دي .

د کابل درژیم اوسنی مثلث چې له شمالي خونکارې ټلوالې قاتلان ،دلویځ د کلیساووحلواخواره اودتیر جهادمنحرفې ځیرې یې په درې ګونو زاویو کې دمجاهدولس پر غوښوشخوندوهې اونن یې هم لاسونه ددې قام په وینو تر څنګلوپورې سره دي ، داسلامي امارت دبیا واکمنۍ او اسلامي نظام له عادلانه محاکمې نه ویرېږي او خپل سیاسي او حکومتي ژوند دبهر نیانوپه شتون کې وینې ،دخپر نیزوچینلونوله لارې داسې بور،نونکې تصویرونه نړۍ ته ور کوي چې ګوندې دامریکانوله وتلو وروسته به افغانستان دتیرې یوې نیمې لسیزې وړاندې غوندې دیونامعلوم برخلیک سره مخ شي او انارشیزم به رامنځ ته شي .

خواسلامي امارت چې همدا اوس اداري واحدونه اود پوځي جزوتامونومنظم قطعات لري ،نوپه پوره باور سره ویلای شوچې ددې ډول برخلیک نه به ولس وژغول شي او کومه داسې تشه به نه رامنځته کیږي اویوه بیلګه نظام به ورغول شي .

ځمکنی واقعیت دادی چې امریکا له هیواده په سوال او زاړۍ نه وځي اونه یې پرولس رحم و کرم راغلی ،دوئ دآسیا دې بام ته دیوه اوږده پلان له مخې راغلې وو،چې دنړۍ لدې بامه به یې دټولې آسیا څارنه کوله، ځکه همدا اوس دوئ دنړۍ په مختلفو (۱۵۰)هیوادونو کې پوځي هډې لري او په ګرده نړۍ نظارت کوي ،بلکې دالله جل جلاله نصرت او دمجاهدینوپې سارې قربانیومحصول بولوچې له املې یې زمونږهیوادوال لدې نړۍ خورې بلا له منګولوخلاصیږي او دخپلواکۍ پر لور پر مختګونه کوي ،دخپلې مدعی دثبوت لپاره درته یوازې ددښمن دتیر (۲۰۱۲)زکال دتلفاتوهغه لنډه احصائیه مخکې کې ږدوچې (مورچل مجلې) په خپلو میاشتنیو جدولونو کې داسلامي امارت درسمي ویندویانوپه حواله لوستوالوته نشر کړي .

بریدونه : (۱۴۷۶۸)،داشغالګروځل شوي پوځیان : (۷۶۹۲)،ددوئ ژوبل شوي عسکر :(۴۴۱۹)،د داخلي عسکرو دمړینې کچه :(۱۹۵۱۹)،ژوبل شوي عسکریې :(۱۱۱۸۶)،ویجاړې شوبلې :(۷۰۴۹)،او (۸۸)مختلف النوع الوتکې یې رانسکورې شوي دي .

لکه مخکې چې مو ورته نغوته وکړه دامریکایانو دتیښتې اعلان زمونږپر ولس ددوئ زړه سوی نه بلکې دلوی خدای ج هغه نصرت به وی چې دنهیلۍ پر وخت یې له خپلو بندګانو سره کوي ،او داداسلامي امارت دمجاهدینودپې سارې قربانیوهغه ثمره ده چې دخپل لطیف بدن له غړیونه یې بارود جوړ او ددښمن پوځي تاسیسات یې پرې ونړول ، نن الحمدلله دکفري لښکرومشران دې ته اړیستل شوي چې ددومره پوځي زیان او بې خرته پیسوپه مصرف سربیره بیاهم مو دهیواده تښتې او خاوره مو افغان ولس ته پریږدي ،نو ددې هیله ناشونې نده چې دبادارنو کډوپسې به یې دغلامانو کډې هم باریږي او ځای به یې یو سوچه اسلامي نظام نیسي ! انشاءالله

پیام ویژۀ امارت اسلامی

برای علمای کرام افغانستان و جهان اسلام

در مورد برگزاری نشست علمای دینی در کابل

بسم الله الرحمن الرحیم

علمای بر حق دینی که رسول الله صلی الله علیه وسلم آنانرا وارثین خویش نامیده است در مجتمع اسلامی از مقام خیلی والایی برخوردار اند ونسبت به هر کس دیگر مسئولیت بزرگی را به دوش دارند. چنانچه در امت های گذشته پیامبران علیهم السلام رهبری اجتماع بشری را به دوش داشتند و مرجع رهنمایی پنداشته میشدند ، بعد از خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم این مسئولیت برای علمای کرام دینی برحق به میراث باقی مانده است. به همین سبب درجریانهای مختلف تاریخ علمای کرام جهت آرامی وسرفرازی امت پیشوایان جهاد ، علم، ارشاد ، دعوت، سیاست و میدان های دیگر باقیمانده اند و در حالات خیلی دشوار به نصرت الله تعالی کشتی امت را نجات بخشیده اند.

مثال زنده آن امارت اسلامی افغانستان است؛ آنگاه که ثمرهء جهاد چهارده سالهء ما بر ضد شوروی با خطر ضیاع مواجه شد ، وطن و ملت ما با خطر تجزیه دست و گریبان بود ، سر، مال و عزت مردم غیور افغان همه در خطر قرار داشت، مردم ما در شعله های فساد و جنگهای ذات البینی می سوختند ، و همهء جهان و بشریت آنانرا فراموش کرده بودند ، همین علمای کرام دین بودند که جرأت کرده و قیام نمودند ، و به رهبری ازشاگردان علوم دینی (طالبان) در یک تحریک خالص اسلامی نه تنها مردم خودرا از فساد و بی امنیتی نجات دادند بلکه بر سرزمین اسلامی افغانستان یکبار دیگر یاد خلافت راشده را زنده نموده و نظام مقدس اسلامی را نافذ کردند.

مگر دشمنان جهان اسلام که این جریان را مشاهده کردند ، یکبار دیگر دشمنی تاریخی واحساس بدبینی شان در مقابل نظام اسلامی زنده شد ، و بعد از بهانه سازی های مختلف ارادهء حمله بر حریم اسلامی افغانستان را کردند.

در لحظات حساس اشغال کفار غربی بر افغانستان، یکبار دیگر یک و نیم هزار علمای جید کشور گردهم آمدند ، و بعد از چند روز بحث بطور متفق به این نتیجه رسیدند که حملهء امریکا ومتحدین آن بر افغانستان یک حملهء ظالمانه خواهد بود که در مقابل آن بر اساس همهء نصوص قرآنی و نبوی جهاد فرض عین پنداشته میشود ، زیرا نصوص شرعی چنین میگوید:

ـ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُم مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ ۚ وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ۚ وَلَا تُقَاتِلُوهُمْ عِندَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتَّىٰ يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ ۖ فَإِن قَاتَلُوكُمْ فَاقْتُلُوهُمْ ۗ كَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ ﴿۱۹۱﴾ بقره

ـ أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ (۳۹) الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِم بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَن يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ ۗ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا ۗ وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿۴۰﴾ سوره الحج ـ

ـ وَعَنْ أَنَسِ بن مالک رضی الله عنه، قال قالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ» [رواه ابو داؤد ۳۲/۲ والنسائی ۷/۲ والحاکم ۸۱/۲].

ـ وفی المبسوط للإمام السرخسی:(۱-۲): ثم أمر رسول الله صلی الله وسلم بالقتال إذا كانت البدايه منهم فقال تعالى ﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا﴾ [البقرة۱۹۰] أي: أذن لهم فی الدفع وقال تعالى ﴿فَإِنْ قَاتَلُوكُمْ فَاقْتُلُوهُمْ﴾ [البقرة۱۹۱] وقال تعالى ﴿وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا﴾ [الأنفال۶۱] ثم أمر بالبدايه بالقتال فقال تعالى ﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ﴾ [البقرة۱۹۳].

آنگاه که تجاوز جابرانه کفار آغاز گردید بر همین اساس شرعی بر افغانها نیز در موجودیت امیر شرعی شان جهاد فرض عین گردید پس برای بجا آوردن این حکم الهی اینک یازده سال میشود که ملت ما هر گونه قربانی داده اند ، علماء، صالحین، زنان، محاسن سفیدان، اطفال ومردم عام ما شهید شدند ، اذیت شدند ، مهاجر شدند ، در زندان ها انداخته شدند ، وبا تکالیف گوناگون دست و گریبان اند ، مگر در مقابل دشمن سر خم نکردند ، وبخاطر بجا آوردن امر الهی اینک هر مشکل را متحمل میشوند وبر جهاد خود ادامه میدهند.

اینکه به فضل و کرم خداوند متعال در جریان این یازده سال دشمن را در همه میدانهای جنگ به عقب زدیم، هر دسیسهء آنها را خنثی کردیم، هر مکر و فریب آنها ناکام شد، پس در پهلوی جنگ، حربه ها و تکتیک های دیگر شیطانی را نیز به راه انداخت، بنام کمیسیون صلح پروسهء تسلیمی مجاهدین، وعده های معافی و معاشات دالری، ایجاد و تمویل کمیسیون دوم و بزرگ صلح، تبلیغات گمراه کننده از طریق مطبوعات، به وسیلهء یکعده علمای سوء فتواها در مخالفت با جهاد، پروسهء اربکی سازی، درامه های جعلی به نام قیام مردمی، این همه را از راه زور و زر روی کار گرفت مگر لله الحمد خداوند متعال مجاهدین را در مقابل اینهمه دسایس شوم صبر و استقامت نصیب کرد و به نوبهء خویش هر دسیسه را در وقفهء زمانی کوتاهی خنثی نمود.

چنانچه همهء دسایس امریکا در داخل افغانستان خنثی شد و اکنون با مایوسی شدیدی روبرو است پس میخواهد که در سطح منطقه دست به بعضی دسایس و فریب کاری های دیگری بزند که به زعم خود از طریق آن بتواند جلو شکست خویش را بگیرد، به همین دلیل میخواهد نشستی را بنام علماء ی دینی یک تعداد کشورهای جهان اسلام دایر کند، این نشست را اگرچه ظاهرا متصدیان ادارهء کابل دعوت خواهد کرد مگر محرکین و بازی گران اصلی آن امریکایها هستند. آنها میخواهند بعد ازجریان جهاد یازده ساله دربارهء جهاد در افغانستان نظر علماء را بگیرند.

چنانچه این دسیسه مستقیما دسیسهء شیطانی امریکایی است و میخواهد از علمای دینی برای پاک کردن روی سیاه خود استفاده نماید، به همین شکل در میان مجاهدین شک و شبهه ایجاد کند و در نتیجه هنوز هم زمینهء موجودیت امریکایی مساعد شود و منطقه برای همیشه در گرو امریکا باقی بماند لذا امارت اسلامی افغانستان از همهء علمای کرام حقانی در منطقه و جهان میخواهد که باید آنان از روی مکلفیت دینی خویش در این نشست خدعه آمیز اشتراک نکنند، خواه علمای دینی افغانستان اند، یا از عربستان سعودی، یا از پاکستان ویا از دارالعلوم دیوبند هندوستان، یا هم مدارس بزرگ دیگرویا جامعه ازهر مصر ویا هر کشور دیگری.

شما علمای کرام میدانید که اشتراک در این نشست همکاری با امریکا در وقت شکست وجفای بزرگ با برادران مجاهدتان که پسران معنوی شما هستند میباشد. شما باید روی مکلفیت علمی ودینی همرای برادران مجاهد تان، آنانیکه بعد از چهارده صد سال به رهنمایی شما بر نقش قدم صحابه کرام قدم گذاشته اند، همکاری کنید.

شما باور کنید که اگر قربانی بی دریغ این مجاهدین در افغانستان نمی بود امروز در نقشهء جهان نام کشورهای زیاد اسلامی وجود نمی داشت، امروز کشورهای زیاد اسلامی را امریکایی های اشغالگر همچو عراق اشغال میکردند. همین مجاهدین اند که با مبارزه جهادی خویش ، امریکا را به معنای کامل با شکست مواجه کرده اند وهمه منطقه در حالت برگشت بسوی امن وامان است.

شما میدانید که اشغالگران امریکایی در کشور ما همه روزه جنایات گوناگونی را مرتکب میشوند ؛ مردم را قتل میکنند ، بد اخلاقی وانحراف را ترویج میدهند ، وخواب بقای دراز مدت خودرا می بینند. خدا نه کند اگر در این حالت بعضی از علماء فریب آن ها را بخورند وهمرای شان یکجا شوند ، در نشست شان اشتراک کنند ، وبه تقاضاهای آنان لبیک گویند پس بعید نیست که تاریخ دربارهء آنان قضاوت خودرا بکند ، هم در محاسبهء خداوند متعال وهم در قضاوت مردم در جمله وزمرهء علمای سوء محسوب خواهد شوند.

ما میدانیم که شما با درک علمی خود هم با پروسهء نامبرده متارکه ومقاطعه خویش را اعلان خواهد نمودید ، مگر شما بر ما حق دارید که ما نیز خواهش دینی خودرا خدمت تان تقدیم کنیم تا آنکه خدای ناخواسته در دام فریب وخدعهء کفار نه افتید. اگر کسی به این نیت در آن اشتراک میکند که در آنجا سخن حق بگوید پس این دلیل را زیرا بی فایده بداند که سخن حق او از این کنفرانس خارج گذاشته نخواهد شد ، رسانه های استخبارات غربی به گوشهای جهانیان تنها آن سخنی را میرسانند که به نفع آنها باشد وبا آن سخن ها بار بار نامها وتصاویر علما را به نمایش خواهد گذاشتند وبه این شکل علمای کرام را در چشم مجاهدین وهمهء مسلمانان واقعی بی ارزش میسازند.

این حقیقت است که جنگ کنونی در کشور ما تنها جنگ نه بلکه جهاد مقدس در مقابل اشغال است که به فتوای یک ونیم هزار علمای دینی آغاز شده است و تحت مراقبت و نظارت علمای دینی ادامه دارد. در مقابل ما امریکا و کفر جهانی قرار دارد ، ادارهء بی اختیار کابل ادارهء دست نشاندهء کفار است که نمایندگی مردم و کشور ما را کرده نمیتواند. ادارهء کابل گامی بدون اجازهء امریکا برداشته نمیتواند و نه به آن حکومت آزاد و مستقل گفته میشود.

یک دلیل بزرگ حقانیت ما و نصرت خداوند متعال این هم است که با نیروی بشری خیلی اندک و وسایل خیلی ناچیز نیروهای بزرگ فرعونی دنیا را آنچنان ذلیل کرده ایم که

امروز برای علمای دینی از روی خدعه زاری میکنند ، و در همهء جهان بی حیثیت شدند ، اقتصاد شان روبه انحطاط نموده و جهان دیگر از شر شان در حالت نجات یافتن است.

شما از این حقیقت اطلاع دارید که اینجا جنگ ساده یی جریان ندارد ، اینجا جنگ شدیدی جریان دارد که ناتو خود در سال ۲۰۱۰ میلادی اعلان کرد که امسال از جانب مجاهدین بر ما هژده هزار ۱۸۰۰۰ حمله صورت گرفته است که هر روز پنجاه ۵۰ حمله میشود. ودر سال ۲۰۱۱ میلادی نیز بر اساس اعلان واقرار ناتو ۲۱۰۰۰ بیست ویک هزار حمله بر آنان صورت گرفته است که تقریبا روز ۶۰ شصت حمله میشود. سال ۲۰۱۲ نسبت به سال های دیگر برای آنها خونین تر است لهذا امریکا و متحدین آن تحت ضربات و فشار شدید قرار دارند و بعضی از متحدین آن عقب نشینی کرده و عساکر خودرا خارج کرده اند و دیگران نیز در حال خروج می باشند.

همین فشار بود که امریکا را به این حد رسانید که امروز نزد شما گریه میکند و از شما امید نجات دارد ، امید است که شما این امریکا را که در همهء جهان خون مظلومان را می ریزاند و همهء منابع آنانرا به یغما میبرد دست کمک و نجات ندهید.

در خاتمه یکبار دیگر توجه شما را به آن مسئولیت سنگین وحفاظت حیثیت عالی تان جلب میکنیم که با اشتراک نکردن در این چنین مجالس از وقار آن محافظت صورت میگیرد.

هدف وآرمان جهاد مقدس ما اعلای کلمه الله است و تا آنوقت مردم ما اسلحه خودرا از شانه پائین نخواهند کرد تا آنکه مطئمن شوند که حاکمیت اسلامی دیگر نافذ بوده و حدود خداوند متعال در چوکات یک حاکمیت واقعی اسلامی بجا شده است وما ذالک علی الله بعزیز

والسلام

امارت اسلامی افغانستان

۱۳۹۱/۱۰/۷هش ـ ۲۰۱۲/۱۲/۲۷م

۱۴۳۴/۲/۱۴ هـ ق

دکرزی د اداري او امریکا ترمنځ په اصطلاح امنیتي تړون په اړه

داسلامي امارت اعلامیه

داچې امریکایي اولس مشر اوباما کرزی امریکاته ددې لپاره ورغوښتی چې په افغانستان کې دپاتې کیدونکو یوشمیر امریکایي عسکرو په اړه سند ورباندې لاس لیک کړي او په سیمه کې امریکایي حضورته دخپلو کړو پالیسیو له مخې دوام ورکړي ، اسلامي امارت یې په اړه لاندې غبرګون ښیي:

۱ـ که امریکا په افغانستان او سیمه کې دآرامۍ او دخپلو خلکو لپاره ددې روان ناورین نه دوتلو لارګورې نو هرڅه ژر باید خپل ټول عسکر له افغانستان څخه وباسي او نور دې، د غې بې ګټې اوبې مفهومه جګړې ته عملا دپای ټکی کیږدي.

۲ـ که امریکا ګمان کړی وي چې په خپلو یوشمیر پاته کېدونکو عسکرو سره به وشي کړای په سیمه کې خپل شوم عزایم پلي کړي او دلته به ځان ته دآرام بستر وموميي ، نو موږ ښکاره او په زغرده ورته وایو چې داسي خیالونه هم لکه دایولس کلن جنګ چې هیڅ نتیجه یې نه ده ورته ورکړي تش خیال ده چې کله به یې هم دعملي کولو چانس ونه مومئ.

۳ـ داچې په سیمه او افغانستان کې امریکایي شتون ددومره لوي ناورین او دټولې سیمې دناقراري سبب ګرځیدلی ، که امریکایان وغواړي خپل لږ یا ډیرعسکر زموږ په هیواد کې دهرڅه مودې لپاره وساتي معنی یې داده چې ترهغې مودې پورې په سیمه کې جګړه او تباهي غواړي چې له ټولونه زیات زیان به یې بیا هم امریکا ویني.

۴ـ دامریکا ولس او بانفوذه جهتونه باید خپل حکومت نور ددې جګړې له اوږدولو چې امریکا پکې دماتې او مطلقې ناکامۍ سره مخ ده راوګرځوي او نور دابې ګټې اوبې مفهومه لوبه پای ته ورسوي.

۵ـ دامریکا حکومت او حامد کرزی باید پوه شي چې له امریکا سره دهغو دعسکرو دشتون ترون لاسلیکول یوائې دده او دامریکا ترمنځ شخصي معامله ده چې ملت یې ردوي اوهیڅ شرعي ،قانوني او حقوقي اعتبار به ونلري اسلامي امارت به یې په وړاندې هغه ډول مقدس جهاد ته دوام ورکوي لکه څرنګه چې یې دا یولس کاله دوام ورکړ.

۶ـ کرزی باید متوجه وي چې په خپل دغه اقدام سره که یې وکړ ، نو د جګړې د پای ته رسولو په تابوت یې وروستی میخ ټک وا هه اوله هغه ورو سته دي بیا دهیڅ راز آرام اوسکون طمع نه کوي.

۷ـ که د کرزي په مشرې د کابل اداره د یوه امریکایی عسکرد شتون سره هم توافق وکړي نو په راتلونکي کې به هم دتیر په څیرد ټولو ناخوالو ، تلفاتو او ورانیو مسئولین هم دوی دي او دوی به وي چې د افغان ملت لپاره یې په هیواد کې اوږدمهاله اور بل کړ اوروانه جګړه یې لاهم ستوغه او شدیده کړه.

۸ـ ددغه سند دلاسلیک په اړه چې پورته کومې یادونې وشوي دا یواځې زمورږخبرې او پریکړه نه ده بلکې اکثریت ملت په همدې باورده چې په راتلونکي کې به یې تاسو عملي عکس العمل وګورئ.

۹ـ اسلامي امارت باور لري چې په افغانستان امریکایي یرغل سیمې ته دیوه راغلي توپان حیثیت لري ، او معلومه خبره ده چې توپان وچ یا لانده او سرحدونه ،نه پیژني بلکې ټول په یوه ډول ګوابلی شي ، که چیرې د سیمې هیوادونه دامریکایي حضور داوږدیدو په اړه بې تفاوته شي نو باید په اوږدمهالي توګه په سیمه کې جګړو ، نارامۍ ، استثمار ، اشغال او دامریکایي شتون څخه راپیدا شویو نورو ستونزوته په کم نظر ونه ګوري .

۱۰ـ مورږ په خپل ځوریدلي ملت ، ټوله سیمه او اسلام ي هیوادونو غږ کوو چې په امریکایي شتون سره به ټوله سیمه له اوږد مهاله جګړې او لا بې ثباتۍ سره مخ کیږي او ددې ناسور دبشپړ له منځه وړلو لپاره باید د اسلامي امارت سره خپله همکاري ونه سپموي ترڅو دغه دسرتان دانه په کامله معنی له بیخه و خیږي او ټوله سیمه یې له خطر نه وساتل شي ،همدارنګه دغرب په او لسو نو هم ژغ کوو چې خپل او لا دونه او د افغانستان او لس دي نور په دي او ر کې له کبا بیدلو وژغو ري او خپل سر ټمبه حکمرانان دي له خپل سر و پریکړو را و ګر ځوي.

د افغانستان اسلام ي امارت

۱۴۳۴/۲/۲۳هق

۱۳۹۱/۱۰/۱۲هش ـ ۲۰۱۳/۱/۵م

" حکمت "

په ۲۰۱۲ زکال کې
د اسلامي امارت سیاسي او دیپلوماتیکې
لاسته راوړنې

په تیرو څو کلونو کې به ځینو اعتراض کاوو ، چې د افغانستان اسلامي امارت په پوځي ډګر کې خورا غښتلی او په برلاس موقعیت کې دی ، خو سیاسي او دیپلوماتیک خوځښت یې له پوځي بهیر سره همګام نه دی ، ټول پوهیږو چې په تیره لسیزه کې دغه ستونزه د اسلامي امارت د سیاسي کمزورۍ له امله نه بلکې دهغه نامساعدو سیاسي ظروفو له امله وه چې اسلامي امارت ته یې په دیپلوماتیکو ستیجونو باندې د ظهور امکان نه ورکاوو .

د اسلامي امارت لانجه دیو قطبي نړۍ له ترټولو مغرور او عالمګیر ځواک (امریکا) سره هغه مهال پیښه شوه ، چې دغه زبرځواک دخپل تاریخ د اقتصادي او پوځي ځواکمنۍ ترټولو وروستۍ څوکې ته رسیدلی وو ، امریکا د خپل دښمن (اسلامي امارت) لپاره هیڅ سیاسي حیثیت او شتون په رسمیت نه پیژاند چې په نړیوال سیاست د دغې امریکایي قبضې په وجود کې مجاهدینو ته په اسانه د دې موقع نه برابریده چې له پوځي جهاد سره خپل سیاسي جهاد هم همغږی کړي.

خو په تیرو څوکلونو کې چې د جهاد په برکت څومره د امریکایي قطب نړیوال ځواک او اعتبار ویلي کیده او له منځه تلو ، په هماغه کچه د اسلامي امارت پوځي او سیاسي موقف هم ترقي کوله ، تر دې چې نړیوال او سیمیز حالات بالاخره دې ته ورسیدل چې اسلامي امارت دخپل پوځي جهاد په برکت د سیاسي مبارزې ستیج ته پورته شول.

دبیلابیلو سیاسي پیښو او جریاناتو په اړه درسمي اعلامیو ، او د اسلامي امارت د دریځ د څرګندولو په ورځني فعالیت سربیره د اسلامي امارت د سیاسي چارو

کمیسیون دتېر ۲۰۱۲ کال دجنورۍ په دریمه اعلان وکړ چې اسلامي امارت له قطر هیواد سره یوې موافقې ته رسیدلی ترڅو دا هیواد داسلامي امارت سیاسي استازو ته دفعالیت اجازه ورکړي.

په دې لړ کې داسلامي امارت څو تنه سیاسي نمایندګان هم دقطر هیواد پلازمینې دوحې ته ورسیدل ، دغه ګام په نړیواله کچه په سیاسي او مطبوعاتي حلقو کې په خورا درانه کاڼي وتلل شو ، او دمجاهدینو یو ستره لاسته راوړنه یې وبلله ، ځکه په دې ډول طالبانو یو سیاسي اود مفاهمت خپلواک ادرس وموند ، اسلامي امارت له نړیوال سیاسي حصر او اعلامي کلابندۍ څخه راووت ، او په خپله ژبه یې دخپلو نړیوالو اراتمندانو هیلې ځواب او ددښمنانو دروغجنې خولې دحقائقو په اظهار سره وربندې کړي.

ددې سیاسي پرمختیایي بهیر په ترڅ کې یو ځل داسلامي امارت نماینده قاري دین محمد حنیف دجون په ۲۷ مه دجاپان د دوشیشا په پوهنتون کې په یوه کانفرانس کې داسلامي امارت اصولي دریځ نړیوالو ته بیان کړ ، او بل ځل د دسمبر په ۲۱ مه دفرانسې په شانټیلي ښار کې دسیاسي کمیسیون چارواکو مولوی شهاب الدین دلاور او دکتور محمد نعیم په یوه کانفرانس کې په ګډون سره داسلامي امارت داعیه او دریځ ابلاغ کړ.

داسلامي امارت بارز سیاسي فعالیت او اړیکو په نړیواله کچه په هغو ټولو تبلیغاتو دبطلان او محوې کړنې راتېره کړه ، چې په تیره لسیزه کې داسلامي امارت په خلاف شوي وو ، دغه راز ددغو دیپلوماتیکو هڅو له امله د نړۍ له وګړو ، شخصیتونو ، ولسونو او ځینو حکومتونو سره ددوه اړخیز تفاهم او اړیکو فضا رامنځته شوه ، دهمدې دیپلوماتیکې پروسې په نتیجه کې په نړیواله کچه داسلامي امارت استازو ته دسفر او دیپلوماتیک مصؤنیت فرصت حاصل شو دغه راز داسلامي امارت څو تنه مهم اشخاص او غړي په پاکستان کې له زندانونو خوشي او دنورو داسارت شرائط دپخوا په پرتله ښه شول.

افغان عسکر امریکایي تالاشي

"صمیم"

که په افغانستان کی د قائمه تفتیش نقطو او چېک پوستونو ته نظر وکړو وبه ګورو چې زمونږ افغان عسکر هوبه هو د امریکایانو، بریتانویانو، فرانسویانو، جرمنیانو، ایټالویانو، کاناډایانو او نورو غربی عسکرو په ځیر افغانان د شالـه طرفه تالاشي کوی چې د افغاني ملي او اسلامي دستور مخالف کار دی او ډیره ستره بي ادبی او بشکاره بداخلاقي ده، ددې کار اصلي علت دا دی چې افغان عسکر که هغه ملي اردو ده او که هغه ملي پولیس دي او که هغه د ملی امنیت اعضاء دي د امریکایانو له خوا تربیه او ټریننګ ورکړل شوی او د امریکایانو لپاره دیوه چاد شالـه طرفه تالاشي کول او یا یې په ځمکه پرې مخې اچول او حتی له یو مظنون او مشکوک کس د عادي او غیر عادي تالاشي پروخت کالي ایستل یو عادی کار دی چې به امریکایي فرهنګ او کلتور کې د څه خاص اهمیت وړ ندی خو که خبره افغانانو ته راشي نو بیا دا خبره ډیر فرق کوی د افغانانو کلچر په شرعی او نورو لحاظونو له امریکائی کلچر سره توپیر لري، بلکې ویلای شو چې په امریکایي کلچر تفوق لري ږمونږ په کلچر کې غیرت اساس او بنیاد تشکیلوی په داسې حال کې چې به امریکایي کلچر کې د غیرت مسئله څه خاص اهمیت نه لري او نه دې خبرې ته (غیرت) څوک په درنه سترګه ګوري ځکه خو له عادي او غیر عادي متهمینو او عامه خلکو سره امریکایي عسکر ټیټ او د انساني معانیرو خلاف چال چلند کوي د مثال په توګه امریکایي بې تربیه عسکر د متهم یا مظنون شخص دنیولو پر وخت هغه ته سپکې سپوری او ډیرې بدې بشکنځلې کوي چې مظنون شخص ته د مور او پلار بشکنځل کول او پر مظنون شخص بیرحمانه او ځناورانه حمله کول او پر ځمکه پرې مخې اچول او لاسونه یې تر شا تړل او بیا څو تنه ثور الجثه امریکایان دهغه پر شا او پښو کښیناستل او د ټوپکو په شپیلیو دهغه وهل یو عادي کار دی چې په حقیقت کې د ټولو انساني، عسکري، استخباراتي، امنیتي اخلاقو صریح مخالفت دی پدغه وجه ګورو چې له امریکایي عسکرو سره څوک همدردي نکوي او هر ځای یې په ننبه کوی او هیڅوک یې د بشلو نیت نلري.

ځکه دوی وحشت، حیوانیت، بداخلاقي او بي رحمي هر چاته جوته ده چې د جنګ پر مهال هر سړی ددې کوښښ کوي چې زیات شمیر امریکایی عسکر ووژني او خپل زړه او سینه پرې یخه کړي دغه ډول افغان عسکر هم د امریکایي او غربي عسکرو په پله پل ږدی او له خپلو افغان هیوادوالو سره د امریکایانو په شان تعامل او چال چلند کوي ته به وایي چې افغان عسکر نه بلکې د بوش د خاندان کوم غړی دی او دا ډیره د شرم خبره ده چې افغان عسکر دې د بې تهذیبه او بداخلاقه امریکایي عسکرو تقلید وکړي او په پټو سترګو دهغه چا پیروي کوي چې اصلا

انسانیت نه پیژني او نه هم انساني عاطفه لري دا د افغان عسکر لپاره د افسوس خبره ده چې خپل افغان کلتور يې پرې ايښې او د پردیو ککړ او ناولې کلتور يې خپل کړی .

افغان اولس دا ډول سپک کوونکی او اهانت کوونکی تعامل او امریکايي تالاشی ردوي او هغه د شرعي او افغاني قوانینو مخالفت بولي، بل خواته د امریکایانو له خوا د بښو تالاشي د مذمت وړ ده ،سره له دې چې دا تالاشي اوس مهال د بښینه امریکايي عسکرو لخوا کیږي خو ددغه لنډ غرو امریکايي بښینه عسکرو حکم هم د ډیر علماء کرام په نزد د نارینه وو لنډ غرو عسکرو سره ګرځي راګرځي ،نو ځکه باید د داسې پلیتو اوباشو بښینه عسکرو لخوا زمونږ خویندې میندې تالاشی نشي او نه هم دا کار جواز لري ،دا چې نن مونږ مظلوم یو او پدې نه یو توانیدلې چې بې حیا امریکایان لدغه ډول کړنو منع کړو دا بیله خبره ده خو دا ددی په معنی نه ده چې مونږ الله مکړه پدغه ذلیله تالاشی او نورو ډول ډول اهانتونو راضی یو بلکې مونږ مضطر او مجبور یو ، که نه نو نه زمونږ دین او نه هم زمونږ کلچر ددې اجازه راکوي چې د امریکایانو تالاشی او نورې نادودې وزغمو خو دحجت د قیام په خاطر او ددې لپاره چې په راتلونکې افغان پوځ او ددغه پوځ اړوند منسوبین او داخله وزارت کار کوونکې او دملي امنیت غړي باید پوه وي چې زمونږ اولس او زمونږ مسلح ځوانان هر ډول امریکايي تالاشی که هغه د کورونووی او که دهیوادو وي، ردوي او په کلکه يې غندي او په ټول توان يې مقابله کوي ،خو دا پیله خبره ده چې په دغه مورد کې ډیر کار ندی شوی ،ځکه دا وخت د افغان ځوانانو زیاته توجه د یر غلګر ځای پر ځای د مخنیوی لپاره ده او ددې وار په هم راشي چې د تالاشیو پر مهال پر امریکایانو لازم بریدونه وشي تر څو له دی ډول بې ځایه تالاشیو او دهیواد دخلکو له ځورنې لاس واخلي امریکایان د عملیاتو پر مهال تر بریدونو لاندې راوستل هم اسان دي او هم ګټور ، ځکه دغه وخت امریکايي عسکر په پوره تشویشي او هیجاني حالت کې وي او شا طرف ته يې خاص توجه نه وي که دغه مهال د سپکو او درندو وسلو تر برید لاندی ونیول شي :ټور نتائج به رامینځ ته شي .

لومړی د کورونو تالاشي به پای ومومي او دوئ به د ځان په غم شي، بل طرف به د پام وړ تلفات ووینې او هم دغه مهال به مجاهدین له هر ډول هوائی برید په امان وي ، ځکه په لنډ او نژدې فاصله کې امریکايي جیټ او څرخي الوتکې نه اهداف ولي او نه يې ویشتلی شي او نه هم د دا ډول لنډ او ګنډ وخت کې څه مرسته راغوښتلی شي په هر صورت د تالاشیو د له مینځه وړلو او د هیوادوالو د پشپړې ژغورنې لپاره اړینه ده چې د عملیاتو بڼه ، وخت، ځای، او طریقه بدلون ومومي او هغه دا چې الحمدالله مجاهدینو دا وخت په خپلو عسکري عملیاتو کې خورا مهم بدلون او نوښت راوستی چې امریکایان يې هک پک کړي او نه پوهیږي چې څه وکړی او دا د سنګر د ځوانانو په عسکري لوړې تجربې دلالت کوي چې مونږ په خپل وار دغه ننګیالیو ته د لوی الله جل جلاله نه د مزید توفیق غوښتونکي یو او لري نه ده چې دغه مخلص ځوانان امریکايي اشغال په روان کال له خپو وغورځوي .

امام زهری رحمه الله ستاره پرفروغ علم حدیث

در ادوار مختلف تاریخ اسلام، شخصیت‌ها و علمای اعلامی پا به عرصه ظهور نهادند که هر یک از آنها به منظور احیاء و تجدید دین، گام‌های موثری برداشته اند و کارنامه های علمی ارزنده ای را به نام خویش به ثبت رسانده اند. از این میان محدثان را می توان نام برد که در جهت صیانت و حفاظت سنت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم از حریم آن پاسداری نمودند .

از آنجایی که احادیث پیامبر اسلام صلی الله علیه وسلم پس از قرآن مهمترین منبع صیانت احکام و قوانین اسلام است، دانشمندان اسلام توجه ویژه ای به حفظ و انتقال آن مبذول داشتند و در تحصیل آن با طی نمودن سفرهای طولانی و طاقت فرسا و تحمل آلام و رنج‌ها، خود را به محضر اساتید حدیث می رساندند و عطش علمی خود را فرو می نشاندند و سرانجام مجموعه احادیث پیامبر اسلام صلی الله علیه وسلم را برای هدایت امت اسلامی به ارمغان آوردند .

حال سیره و شرح حال آن بزرگ‌مردان، شالوده حیات امت اسلامی و فصل مهمی از تاریخ است که سرنوشت حال و آینده انسان را با گذشته پیوند می دهد و به آن معنا می بخشد.

ما در این مقال، بر آن هستیم تا به طور اختصار شرح حال "امام زهری"، یکی از این ابرمردان تاریخ زرین اسلام را به رشته تحریر درآوریم .

نام، نسب و تاریخ ولادت

ایشان محمد بن مسلم بن عبید الله بن شهاب ( ) بن عبدالله زهری و اصالتاً قریشی الاصل هست (۲) و کنیه ایشان، ابوبکر است (۳) وی در پایان دوره خلافت حضرت معاویه رضی الله عنه طبق قولی در سال ۵۰ هـ (۴) و طبق نظر برخی دیگر در سال ۵۸ هـ ق (۵) چشم به جهان گشود.

شمایل و صفات اخلاقی و روحی ایشان

وی انسانی میانه قد، لاغراندام، موهای بلند، گونه های کم گوشت (۱۵) و محاسن کم پشت داشت و سر و محاسنش را حنا می نمود و انسان با فصاحت و بلاغتی بود، چنان که مشهور بود که می گفتند: فصحای زمانه سه نفرند؛ زهری، عمر بن عبدالعزیز و طلحه بن عبیدالله (۱۲)

از بارزترین صفات اخلاقی ایشان، سخاوت و بذل و بخشش بود. چنانکه لیث می فرماید: ابن شهاب سخاوت‌مندترین فردی است که من تا حال دیده ام. (۱۷)
وی هرگاه جهت تعلیم و تدریس پیش صحرانشینان و روستائیان تشریف می برد، به آنها خوراک می داد و هر کسی که از شاگردانش غذا را نمی خورد، امام قسم یاد می کرد که تا ده روز برایش حدیث بیان نکند. (۱۸)

از صفاتی که باعث شهرت جهانی و برتری ایشان بر معاصران وی شد، دو عامل و صفت بودند: ۱- شدت حرص در طلب علم و دانش که ایشان در این مورد مصداق بارز حدیث رسول اکرم صلی الله علیه وسلم قرار گرفته بود که فرمودند: «منهومان لایشبعان» ایشان چنان در طلب علم و دانش تلاش مستمر و مشغولیت شبانه روزی داشت که باری همسرش به تنگ آمد و فرمود: به خدا قسم که این کتب شما بر من از سه تا هوو سخت تر و سنگین تراند. (۱۹)

دومین عامل پیشرفت و ترقی وی، قوت حافظه و ذکاوت ایشان بود. چنانکه قبلا گذشت که قرآن کریم را در هشتاد شب حفظ نمود و لیث از گفتار ایشان نقل نمود که فرمود: هر علمی را که به حافظه و قلبم سپردم، هرگز آن را فراموش ننمودم. ۲۰

حیات علمی و اساتید ایشان

امام زهری رحمه الله از بدو طفولیت حفظ قرآن کریم را آغاز نمود. سپس جهت تعلیم علوم شرعی و احادیث نبوی صلی الله علیه وسلم در پیشگاه علما و محدثین عصر خویش زانوی تلمذ نهاد و از صحابه کرام رضی الله عنه من جمله حضرت انس، ابن عمر، جابر و سهل بن سعد رضی الله عنهم کسب فیض نمود. (۲)

سپس جهت رفع عطش علمی خویش در مجلس بزرگانی همچون سعید بن مسیب (۷) ابی ادریس خولانی، عامر بن سعد، خارجه بن زید (۸) عبدالله بن عبدالله، عتبه بن مسعود، ابوبکر بن عبدالرحمن (۹) محمود بن ربیع، عبدالرحمن بن أزهر، مالک بن اوس بن حدثان، کثیر بن عباس و عبدالملک بن مروان (۱۰) و... شرف حضور یافت و استفاده نمود.

قوت حافظه زهری

خداوند متعال به امام زهری رحمه الله چنان قوت حافظه و ذکاوتی عنایت فرموده بود که به گفته برادرزاده اش محمد بن عبدالله بن مسلم، ایشان قرآن کریم را در هشتاد شب حفظ نمود.(۱۱(

ابن وهب از لیث روایت می کند که ابن شهاب فرمود: هر چه را به حافظه سپردم، هرگز فراموش ننمودم. (۱۲) لیث می فرماید :ایشان خوردن سیب ترش را ناپسند می دانست و می فرمود: به سبب آن فراموشی در حافظه رخ می دهد .و خوردن عسل را دوست داشت و می فرمود: خوردن عسل، سبب تقویت حافظه می گردد. (۱۳(

باری هشام بن عبدالملک خواست قوت حافظه امام زهری را شخصا امتحان کند ، لذا از وی درخواست نمود که برای فرزندانش حدیث بخواند و به کاتب دستور نوشتن مقروءات زهری را داد و ایشان از وی چهارصد حدیث را نوشت، سپس هشام پس از حدود یک ماه به او گفت: آن نوشته ها از بین رفته اند و دوباره درخواست خواندن و قرائت نمود و کاتب هم نوشت، سپس هشام دو نوشته اول و دوم را کنار هم قرار داد و متوجه شد که یک حرف هم جا به جا نگفته است) .۱۴(

شاگردان امام زهری

طلاب علوم حدیث نبوی از هر کوی و برزن به آرزوی تلمذ زدن در محضر زهری و سیراب شدن از منبع فیاز و سرشار و چشمه سار زلال حدیث نبوی صلی الله علیه وسل به سوی زهری سرازیر بودند که از آن جمله می توان به افراد و شخصیت‌هایی اشاره نمود که سرآمد علمای زمان خویش بوده اند ، همچون عطاء بن ابی رباح، عمر بن عبدالعزیز، عمرو بن دینار، ابراهیم بن علیّه، ایوب سختیانی، محمد بن منکدر، عثمان بن رواد)۲۱(، عقیل، یونس، صالح بن کیسان، معمر، اوزاعی، لیث، مالک (۲۲)، ابوحنیفه، ابن عیینه، ابن حریج و... (۲۳)

امام زهری در میدان حدیث

ایشان در عصر خویش عالم ترین فرد نسبت به سنت بود ، چنانکه ابن عساکر از ایشان روایت می کند که فرمود: «۳۵ الی ۳۶ سال بین شام و حجاز سفر می نمودم و احادیث روایت می کردم، ولی هیچ کس را نیافتم که حدیثی بیاورد که برای من جدید و ناشناخته باشد«.

علی بن مدینی می فرماید: مرکز فرهنگی علم حدیث در حجاز "زهری" و "عمرو بن دینار" و در بصره "قتاده" و "یحیی بن ابی کثیر" و در کوفه "ابی اسحاق" و "اعمش" هستند.(۲۴)

امام زهری رحمه الله در باب سنت و حدیث آثار بسیار مهم و ارزشمندی از خود به جا گذاشته است. منجمله :۱-تدوین حدیث به دستور عمر بن عبدالعزیز ۲- روایت حصه بزرگی از احادیث که به تنهایی از کانال ایشان به دست ما رسیده است و اگر وی نبود ممکن بود آن قسمت از احادیث ضایع شوند. ۳.امام زهری اولین فردی بود که محدثین را به سوی اسانید متوجه گرداند و قبل از وی اهمیت چندانی به اسناد احادیث داده نمی شد.(۲۵)

امام زهری و اتهام وضع حدیث

اولین کسی که در مورد امام زهری لب به اتهام گشود مستشرق متعصب یهودی به نام "گولدزیهر" بود. وی ادعا می کند که رابطه زهری با اموی‌ها سبب شد تا ایشان به جعل و وضع احادیث روی آورد .

اما این یک ادعای بی اساسی بیش نیست .زیرا چگونه ممکن است که رابطه یک شخصیت علمی متعهد ، آگاه و مورد اعتماد علما همچون امام زهری رحمه الله با خلفای بنی امیه نشانه بهره برداری در وضع احادیث باشد ، در حالی که هر گاه علمای مخلص در هر عصری با سلاطین و رهبران رابطه داشته اند ، هیچ‌گاه امانت‌داری آنها دستخوش تغییر قرار نگرفته و آله دست سلاطین و حکام نشده اند .

از طرفی رابطه شخصیت برجسته ای همچون امام زهری با خلفا ضعیف تر و کمتر از این بود که به دین‌داری و امانت‌داری ایشان لطمه وارد شود. زیرا امام زهری شخصیتی بود که از حق و حقیقت یک سر انگشت هم کوتاه نمی آمد. چنانکه ابن عساکر در تاریخ خود نقل می کند زمانی که خلیفه هشام در مورد تفسیر آیه «والذی تولی کبره له عذاب عظیم» زهری را به کذب متهم می کند ایشان چه جواب دندان شکنی به هشام می دهد و می فرماید: «أنا أکذب لا أبا لک، فوالله لو نادانی مناد من السماء إن الله أحل الکذب ما کذبتُ» و این نوع برخورد دلیل بر این مدعی است که رابطه زهری با خلفا ، رابطه ضعیف با قوی یا رابطه فریب خورده با فریب‌کار نبود ، بلکه رابطه کسی بود که هرگاه انحرافی مشاهده می نمود و یا توهینی احساس می نمود ، همچون شیر خشمناکی بر خلیفه و اراکین دولت می خروشید ، زیرا ایشان تربیت یافته خیرالقرون هست که به عنوان نگین تاریخ عصر خویش درخشیده است .

آیا امام زهری خواهان جاه و مال بود که طبق میل و خواهش اموی‌ها، حدیث وضع کند؟! در حالی که خود مستشرق یهودی متعصب اعتراف می کند که زهری از این گروه نبود و بلکه مال و متاع دنیا به اندازه پشیزی هم نزد وی ارزش نداشت. و جایگاه او در میان جامعه امت اسلامی چنان شامخ و بلند بود که نیازی برای احترام گذاشتن به خلیفه و دولتمردان نبود. (۲۶)

نظریه علما درباره امام زهری

عمرو بن دینار می فرماید: من هیچ کس را ندیده ام که همچون زهری، دراهم و دنانیر و متاع دنیا پیش وی بی ارزش تر از پس افکنده حیوان باشد. (۲۷)

ابن سعد می فرماید: زهری شخصی ثقه و دارای احادیث و روایات متعدد، فقیه و جامع علوم است. ایوب سختیانی می فرماید: من عالم تر از زهری کسی را نیافته ام. ابوزناد می گوید: ما همراه زهری جهت استفاده حضور پیدا کردیم و با ایشان همیشه کاغذ و قلم همراه بود و هرچه را می شنید، آن را مکتوب می کرد. (۲۹)

امام ابوداود می فرماید: احادیث ایشان (۲۲۰۰) حدیث هستند که نصف آنها مسند است. (۳۰)

امام احمد می فرماید: زهری، از نظر حدیث بهترین و از نظر سند، بالاترین هست . مکحول می گوید: بر روی کره خاکی عالم تر از زهری نمانده است . عمرو بن دینار پس از ملاقات با زهری می فرماید: به خدا قسم هرگز من مثل این قریشی ندیده ام. (۳۱)

امام ابن تیمیه رحمه الله می فرماید: زهری حدود ۷۰ سال از دین اسلام حفاظت و صیانت نمود. (۳۲)

گزیده ای از سخنان امام زهری

ابن رزین می گوید از زهری شنیدم که فرمود: فقهاء عاجز و ناتوانند از اینکه در باب حدیث "ناسخ" و "منسوخ" را بشناسند .

قاسم بن هزان می گوید: از زهری شنیدم که فرمود: مردم جامعه به گفته و علم عالم بی عمل اعتماد نمی کنند .

از انس بن مالک روایت است که امام زهری فرمود: در مجلس علم بدون دفتر و کاغذ حضور پیدا کردن ذلت است . معمر از زهری روایت می کند که فرمود: هرگاه مجلس طولانی شود، شیطان در آن بی بهره نمی ماند. (۳۳)

یزید بن ابی حبیب از ایشان نقل می کند که فرمود: با کتاب الله و کلام رسول الله صلی الله علیه وسلم مناظره نکن. (۳۴)

زهری می فرماید: من هیچ عبادتی بالاتر از علم انجام نداده ام، زیرا علم ادب الهی است که با آن نبی مکرم اسلام صلی الله علیه وسلم را تربیت نمودند و این علم امانت الهی به سوی رسول الله صلی الله علیه وسلم است تا آن را به ما اداء کند. پس هر کسی که علمی را شنید، آن را حجت بین خود و ذات باری تعالی قرار دهد .

ابن شهاب می فرماید: همانا برای علم مصائبی است و بزرگترین مصیبت علم، دروغگویی است. (۳۵)

وفات امام زهری

امام زهری پس از سال‌ها تلاش مستمر و خدمت مخلصانه در سن ۷۲ سالگی (۳۷) ۱۷ رمضان سال ۱۲۲هـ یا ۱۲۴هـ ق شب شنبه در ناحیه "شغب" شام دار فانی را وداع گفت و به دیار باقی شتافت. (۳۸) رحمه الله رحمه واسعه و أدخله فی فسیح جناته .

پی نوشت ها :

۱ -البدایه و النهایه، للامام أبی الفداء إسماعیل بن کثیر، ج ۱۰، ص۱۹۲/ دار ابن کثیر .
۲ -السنه و مکانتها فی التشریع الاسلامی، دکتر مصطفی سباعی، ص ۱۹۴، دارالسلام، چاپ سوم ۱۴۲۷هـ ق.
۳ -کتاب الثقات، للامام محمد بن حبان بستی، ج ۵، ص ۳۴۸، دارالفکر.
۴ -تذکره الحفاظ، ابو عبدالله شمس الدین ذهبی، ج ۱، ص ۱۸، دارإحیاء التراث العربی .
۵ -البدایه و النهایه، امام اسماعیل بن کثیر، ج ۱۰، دارابن کثیر .
۶ -السنه و مکانتها فی التشریع الاسلامی، دکتر مصطفی سباعی، دارالسلام
۷ -سیر أعلام النبلاء، إمام شمس الدین الذهبی، موسسه الرساله .
۸ -تهذیب التهذیب، الحافظ أحمد بن علی بن حجر العسقلانی، موسسه الرساله .
۹ -السنه و مکانتها فی التشریع الاسلامی، دکتر مصطفی سباعی، دارالسلام .
۱۰-سیر أعلام النبلاء، حافظ شمس الدین ذهبی، موسسه الرساله .
۱۱-التاریخ الکبیر، إمام أبی عبدالله اسماعیل بن ابراهیم الجعفی البخاری، ج ۱، ص ۲۲۰، دارالکتب العلمیه .
۱۲-تهذیب التهذیب، ابن حجر العسقلانی، موسسه الرساله .
۱۳-تهذیب الکمال فی أسماء الرجال، للحافظ المزی، موسسه الرساله .

۱۴۔السنه و مکانتها فی التشریع الاسلامی، دکتر مصطفی سباعی، دارالسلام .
۱۵۔البدایه و النهایه، إمام اسماعیل بن کثیر، ج ۱۰، دارابن کثیر .
۱۶۔السنه و مکانتها فی التشریع الاسلامی، دکتر مصطفی سباعی، دارالسلام .
۱۷۔مرجع سابق.
۱۸۔مرجع سابق.
۱۹۔شذرات الذهب، عبدالحی بن عماد الحنبلی، ج ۱، ص۱۲۲، دار إحیاء التراث .
۲۰۔السنه و مکانتها فی التشریع الاسلامی .
۲۱۔تهذیب التهذیب، الحافظ احمد بن حجرالعسقلانی، موسسه الرساله .
۲۲۔تذکره الحفاظ، ابوعبدالله شمس الدین ذهبی، دار إحیاء التراث العربی .
۲۳۔السنه و مکانتها فی التشریع الاسلامی .
۲۴۔مرجع سابق.
۲۵۔مرجع سابق .
۲۶۔مرجع سابق.
۲۷۔شذرات الذهب، عبدالحی بن عمارالحنبلی، ج ۱، ص ۱۲۲.
۲۸۔تهذیب التهذیب، ابن حجرالعسقلانی، موسسه الرساله .
۲۹۔تذکره الحفاظ، ابوعبدالله شمس الدین ذهبی .
۳۰۔سیر أعلام النبلاء، حافظ امام شمس الدین ذهبی، موسسه الرساله .
۳۱۔السنه و مکانتها فی التشریع الاسلامی، دکتر سباعی .
۳۲۔شذرات الذهب، عبدالحی بن عمار حنبلی، ج ۱، ص۱۲۲.
۳۳۔حلیه الاولیاء، حافظ ابونعیم الاصبهانی، ج ۳، ص۳۶۱، دارالکتب العربی .
۳۴۔سیر أعلام النبلاء، حافظ شمس الدین الذهبی .
۳۵۔السنه و مکانتها فی التشریع الاسلامی، دکتر سباعی .
۳۶۔مرجع سابق.
۳۷۔شذرات الذهب، عبدالحی بن عمار حنبلی .
۳۸۔کتاب الثقات، امام محمد بن حبان بستی، ج ۵، ص۳۴۸، دارالفکر.

با تشکر از سنی آنلاین

اسلامي غزوات اوسرايا

نغمه برخه دخداى دستر دښمن اوددې امت دفرعون ابوجهل وژل!! ابو ظاهير

دجنګ په ګرمو شيبو کې دعکاشه بن محصن(رضي الله عنه) په لاس کې توره ماته شوه ، په دې رسول الله (ﷺ) هغه ته يوه لښته ورکړه ، هغه دعکاشه په نيو و توره جوړه شوه ، نومورې بيا جنګ ته ننوت ،تر هغه وجنګيده څو الله(ج) مسلمانانو ته فتح ورکړه ، هغه توره" عون "ونومول شوه اوپه هر ه غزوه کې له هغه سره وه (البدايه والنهايه ۳۰۳مخ)

عبيدة بن سعيد بن العاص دبدر په ورځ خپل ټول تن چې په زغرو کې پټ کړی و او له سترګو پرته يې بل څه نه ښکاريدل ،زبير(رضي الله عنه) ورته په کمين کې کيناستو سره دهغه په ستر ګه کې نيزه خښه کړه ، چې په دي ومړ ، زبير(رضي الله عنه) ويل :ما د هغه له بره پښې کښودي اونيزه په پوره زور ځانته راښکله ، په دې دنيزې څنډې واوښتې.

رسول الله (ﷺ) ديادګار په توګه هغه نيزه له زبير (رضي الله عنه)واخيسته ، درسول الله (ﷺ) دوفات وروسته دابوبکر صديق (رضي الله عنه) سره وه ، بيا د حضرت عمر (رضي الله عنه) سره وه ، له هغه وروسته دحضرت عثمان (رضي الله عنه) سره وه ،دهغه دشهادت وروسته د حضرت علی (رضي الله عنه) سره وه ، بيا دعبدالله بن زبير (رضي الله عنهم) لاس ته ورغله (البدايه والنهايه ۳ټوک ۳۰۳)

دبدر اسيران :

کله چې جنګ پای ته ورسيد ، الله (ج) مسلمانانو ته ستره فتحه ور کړه، دقريشو اويا تنه مړه او ونيول شول ، رسول الله (ﷺ) په حکم صحابه وو دکافرانو مړي دبدر په يوه کوهي يا کنده کې وغورځول ،خو "داميه بن خلف "مړی دډېر پرسوب په وجه کله چې له هغه نه زغره ويستله وشړيده ،نو هم هلته يې ورباندې خاوري واړولې ،(البدايه والنهايه ۳ټوک ۳۰۵مخ)

کله چې د"عتبه بن ربيعه "مړی کوهي ته غورځول کېده دعتبه په ځوی "ابوحذيفه"(رضي الله عنه) درسول الله (ﷺ) سترګې پريوتې ، دهغه په مخ کې يې دخفګان اوغم نښې محسوس کړې ،رسول الله (ﷺ) نومورې ته وويل :

ابوحذيفه ! ښکاري د پلارپه دې حالت لېدودې زړه کې څه تېر شول ؟

ابوحذیفه وویل : اې دالله رسوله ! په الله سوګند زما په زړه کې بل هیڅ ندي تیر شوي ! یواځي دومره تېر شول چې زما پلار په رایه ، حلم او بردوباری کې غوره و ، له دي وجې به ما هېله درلوده چې ګوندي دهغه خپل فهم اوفراست به یې داسلام راوړو سبب شي ، خو داسې ونشول ، دادی هغه دکفر په حالت کې مړ شو ، په دي غمګین شومه !

رسول الله (ﷺ) دحذیفه (رضي الله عنه) لپاره دخیر دعا وکړه (البدایه والنهایه ۳ټوک ۳۰۷مخ)

دوژل شویو کافرانو جسدونه کوهي ته غورځول :

له انس بن مالک (رضي الله عنه) څخه روایت دی چې دبدر په ورځ رسول الله (رضي الله عنه) دقریشود ۲۴ مړو سردرانو جسدونو په اړه حکم وکړ : چې په یوه کنده یا کوهې کې دي وغورځول شي ، هم غسې دکافرانو د وژل شویوسردرانو جسدونه کوهې ته وغورځول شول ، او دپاتې نورو وژل شویو کافرانو جسدونه جلا بل ځای مووغورځول.

رسول الله (ﷺ) دخپل مبارک عادت سره سم چې کله به یې په هر قوم غلبه ومونده، دجنګ په ډګر کې به تردرې ورځو بوړې تم و ، دهمدې عادت سره سم په بدر کې درې ورځې تم شو، په درېمه ورځ یې په اس دزین اېښودو حکم وکړ ، اس ته په پورته کېدو روان شو اوصحابه پسې ترشا روان شول ، صحابه وو فکر کاو دکوم ضرورت لپاره دومي ، تردي چې رسول الله (ﷺ) د هم هغه کوهې په غاړه ودریده اونوم په نوم، فلان بن فلان یادکړل بیا یې وویل : یا عتبه یاشیبه یا امیه یاابا جهل ! په لوړ غږ یې وویل :

ایا تاسې ته دا نه وه غوره چې دالله (جل جلاله) اودهغه درسول اطاعت موکړی و ، په تحقیق سره مونږ سره زمونږ رب چې کومه وعده کړې وه ،،هغه مونږ حقه وموندله اوتاسې هم دخپل رب وعده حق وموندله!

دا دبخاري روایت دی او دابن اسحاق په روایت کې دومره اضافه راغلي :

اې کوهې والو !تاسې دخپل نبي په حق کې ډېره لویه قبیله وئ ، تاسې زه درواغجن وګڼلم ، نورو خلکو زه ریښتونی اومنلم ، تاسې زه وشړلم ، نورو ماته پناه راکړه ، تاسې له ماسره قتال وکړ ، نورو زما ملاتړ وکړ ،امین ته تاسې خاین وویل ، ریښتوني ته تاسې درواغجن وویل ،نو الله (جل جلاله) هم تاسې ته ډېره بده سزا درکړه .

په بخاري اومسلم کې روایت دی ، چې حضرت عمر (رضي الله عنه) رسول الله (ﷺ) ته وویل : اې دالله رسوله ! ته خوبې روحه جسدو سره خبرې کوي؟

رسول الله (ﷺ) وویل : سوګند په هغه ذات دچا په واک کې چې ځما ساه ده ، زما خبرې ته له هغوئ نه ښې نه اوري ،خو هغوئ دځواب راکولو وس نلري (البدایه والنهایه ۳ټوک ۳۰۷مخ)

حسان ثابت (رضي الله عنه) په یوه اوږده قصیده کې دغه منظر ټول انځور کړی چې دلته دهغه د قصیدي وروستې درې بیتونه دادي :

يُناديهم رَسولُ الله لَمّا
قَذَفنَاهم كَباكِب فى القَلِيبِ

کله چې مونږ هغوئ په کوهې کې وغورځول، نو رسول الله (ﷺ) ور غږ کړ
اَلَم تَجدُوا كلامي كَانَ حقا
وأمرُ اللهِ يَأخذُ بالقلوبِ

ایاتاسې زما خبره حق ونه مونده! او الله (ﷻ) دزړونو څښتن دی
فَما نَطقُوا وَلَو نَطقوا لَقَالوا
صَدقتَ وَكُنتَ ذا رأيٍ مُصيبِ.

پس هیڅ یې ونه ویل ، که بالفرض ویلي هم ،نو ویلي به یې :تاربښتیا ویلې و، او ستارایه سمه وه . البدایه والنهایه (۳ټوک ۳۰۷مخ)

ځېرنه : ددې حدیث اونورونه داهم جوته شوه چې فی الجمله مړي هم اوري ، دجمهورو صحابه وو اوتابعینو هم دامسلک دی ، دومنانو مور عایشه صدیقه (رضی الله عنها) هم ددینه منکر نه وه، ددې زیات تفصیل دحدیثو په کتابونو او اومدارج النبوة کې شته دی !

مدیني منورې ته دفتح زېرې وړو لپاره استازي لېږل:

له دې وروسته رسول الله (ﷺ) دبدر د سترې فتحي دزېرې وړو لپاره دوه تنه ولېږل ، د"اهل عالیه" لورته یې عبد الله بن رواحه ، اود"اهل سافله "لورته یې زیدبن حارثه ولېږه ، اسامه بن زید وایې:

دازېری زمونږ غوږونوته هغه مهال ورسېده ، چې کله مونږ په دغه مهال درسول الله (ﷺ) په لور اودحضرت عثمان (رضی الله عنه) په محترمه میرمن حضرت رقیه (رضی الله عنها) باندې خاوري اړولي ، رسول الله (ﷺ) بدر ته د روانېدو په مهال عثمان غني (رضی الله عنه) دهغې د درملني اوتداوي لپاره په مدینه منوره کې پریښود ،په دې وجه هغه (رضی الله عنه) په بدر کې ګډون ونکړ، خوداچې نومورې د رسول الله (ﷺ) په حکم پاتې شوی ونو حکماً په بدریانو کې شمارل شوی دی

اسامه وایې :مالېدل خلک په زید بن حارثه باندې راټول وه ، زید په مصلی ولاړ اوپه لوړ غږ یې ویلي :عتبه بن ربیعه شیبه بن ربیعه ووژل شول !ابوجهل بن هشام ، زمعة بن الاسود ،ابوالبختري بن هشام اوامیه بن خلف اودحجاج ځامن نبیه اومنبه ووژل شول !

ما وویل :اې پلاره !ربښتیا ووژل شول ؟زید وویل :په الله (ﷻ) سو ګند هو !بلکل ربښتیا ووژل شول !

مدیني منورې ته دزید بن حارثه ، اوعبد الله بن رواحه دلېږلو وروسته رسول الله (ﷺ) روان شو، دبدر داسیرانو قافله هم ورسره وه ، دغنیمت مال یې یوه انصاري صحابي عبد الله بن کعب ته وسپاره.

دغنیمت وېشل:

دفتح وروسته لکه وړاندې مو وویل: رسول الله (ﷺ) په بدر کې درې ورځې پاته و، ددرې ورځو پاته کېدو وروسته مدینې منورې ته روان شو ، صفراء نوم سېمې ته چې کله ورسېد دغنمیت دوېشلو اراده یې وکړه ، خو دغنیمت وېشلو څخه وړاندې دوېش په اړه مختلف نظرونه څرګند شول:

ځوانانو ویل :دغنیمت مال زمونږ حق دی ولې کافران مونږ ووژل.

هغو سپین ګیرو چې په مخامخ جنګ کې یې برخه نه وه اخستې البته بیرغونه یې رپاندنیولي وه ویلي :مونږ هم په غنیمت کې برخه لرو، ولې دافتحه زمونږ په ملاتړ وشوه ، که خدای مکړه تاسې شکست خوړ نو پناه اوتیښته به مونږ ته وه .

اویوه ډله چې درسول الله (ﷺ) ددفاع دنده ورپه غاړه وه، هغوئ ویلي ددې مال حقدار مونږ یو . په دې سره دا ایت نازل شو: یسئلونک عن الانفال قل الانفال ُ لله والرّ سول .

له تانه دغنیمت په اړه حکم پوښتې ته ورته ووایه دغنیمت مال دالله اودهغه درسول دی

یعنې دغنیمت مال څښتن الله (ﷻ) دی ، اورسول الله (ﷺ) دهغه نایب دی ، څنګه چې هغه مناسب وګڼله هغسې دي ووېشل شي ، نوپه صفراء نومې سېمه کې دغنمیت مال په ټولو مسلمانانوباندې ووېشل شو. اوپکې هغه اته تنه یې هم شریک وګرځول ،څوک چې درسول الله (ﷺ) په حکم باندې له بدر څخه پاتې شوی وه لکه :

۱.عثمان بن عفان (رضي الله عنه) رسول الله (ﷺ) دهغه دمیرمنې حضرت رقیه (رضي الله عنها) د درملنې اوتداوي لپاره په مدینه منوره کې پریښودی و.

۲.طلحه بن عبید الله(رضي الله عنه)

۳.سعید بن زید (رضي الله عنه) دادواړه له مدیني نه دابوسفیان قافلې خبراخیستو پسې لېږل شوي ول.

۴.ابولبابه (رضي الله عنه) چې رسول الله (ﷺ) په مدینه منوره کې دخپل نایب په توګه ګومارلی و.

۵.عاصم بن عدی (رضي الله عنه) چې د "عالیه" لپاره ګومارلی و

۶.حارث بن حاطب (رضي الله عنه) دڅه بل کارپه موخه "بنی عمروبن عوف "په لور لیږل شوی و.

۷. حارث بن الصمة

۸.خوات بن جبیر

دغو صحابه ووا ګرکه په بدر کې ګډون نه وکړی، خورسول الله (ﷺ) هغوئ له بدریانوڅخه وګرځول او هم یې هریوه ته له غنیمت نه برخه ورکړه نوربیا

اسلام مې څنګه قبول کړ؟

حسن زوی

داوس وخت تحریف شوی عیسوي مذهب چې په نړۍ کې زیات پیروان لري ، اودلازیات خپراوي لپاره یې په ملیاردونو ډالرلګول کېږي.

خوله دې هم انکار نه شي کېدای چې دابلیس د شاګردانولخوامزخرفاتو پیروي سلیم الفطرت انسان ته دمنلو وړ نوي ، ځکه خو ددې مذهب ډېر هغه دسالم عقل لرونکي پیروان چې داسلام دسپیڅلي لارښوونې مطالعه کړي ورنه متأثره کېږي له عیسوت څخه بېزاري ښکاره کوي اود اسلام په مقدس دین مشرف کېږي .

امریکایې مېرمن عائشه ډکرسن له همدغسې وګړو څخه یوه ده ، داسلام د مطالعې نه پس چې هغې اسلام دځمکې پرمخ تر ټولو غوره دین ښکاره شونو خپل وژدان دېته اړ کړه چې مسیحیت ترک اود اسلام دعدل ، بشر دوستۍ ، سکون اوامن غېږ کې پناه واخلي.

مېرمن ډکرسن داسلام قبلولو یوازینۍ انګېزه دقرآنکریم ربشتونولي بولي. هغه وایي ،، کله چې ماپه پوهنتون کې په لومړي ځل قرآنکریم ولوستلو نو ریشتونوالي اوزړه رابنکونکي وینا یې راته له ستر ګو خوب وتښتا وه او په اسلام کې دژوند تېرولو بې شمېره ګټې یې راته را مخې ته کړې.

زه په دې ښه پوهېدم چې داسلام قبلول زما اوزما دکورنۍ لپاره دستونزوسبب ګرځېدای شي ځکه چې په امریکاکې مېشت مسلمانان

امریکایې الاصله ندي نو دامریکایانو له لورې دډول ډول مشکلاتو سره مخامخ کېږي ، داکثرو مسلمانو کورنیو تړاو داسلامي سیمو سره دی چې له امله یې تړډیره حده داسلام په اړه معلومات لري اوپه دې اړه له زیاتو ستونزو سره نه مخامخ کېږي خو زما په څیر په اسلام کې نوي داخل شوي مسلمان ته دخپل دین دټولو لارښوونو نه دفاع ځکه ګرانه وي چې دبنسټیزو حکمونو پرته یې لا داسلام په اړه لاډیر څه مخې ته نه وي راغلي .

عیسوي نړۍ چې دعسکري یرغل ترڅنګ یې پراسلامي نړۍ کلتوري یرغل هم کړی اوغواړي چې ټوله نړۍ دخپل فکري استعمارلاندې راولي په لویدیځ کې ورته دعیسویانو مسلمانېدل ببخې دمنلو وړنه دي نونویو مسلمانو شویو تنانو ته دنورو مشکلاتو سره دمخامخ کولو ترڅنګ ورباندې داسلامي لارښوونو په اړه ډول ډول اعتراضونه هم کوي ، داسلام په اړه یې فکرونه په بغض ، عناد اودښمنۍ کې دجنون هغه حد ته رسېدلي چې داسلام دمقدس اسماني دین ته هېڅکله نه رانېږدې کېږي او دمطالعه کولو نه یې ځانونه لرې لرې ساتي نو ځکه لادوئ داسلام په سپېڅلي حریم کې دراداخلېدلو نه بې برخې پاتې دي ګڼې تر اوسه به ټول عیسویان مسلمانان وای.

زه دخپلې عقېدې په څرګندولود ستونزوسره مخامخ شوې او په روانې لحاظ ځپل شوی یم خوالحمدلله ستونزې او روانې تکلیفونه مې تل پدې له منځه تللې چې دامې رایاده کړې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوصحابه و رضی الله عنهم دډیرو ستروستونزو په وخت کې دصبراوزغم نه کار اخستی ، زه چې دنورو هغو مسلمانانو سره یوځای شم چې دهغوئ ستونزې زمانه هم خورا ډېرې اودرحم وړ وي نو ماته ډېرزیات قلبي سکون راپه برخه شي .

ذبیح الله "مجاهد"

باقی ماندن یک عسکر امریکایی هم به معنی تداوم جنگ در کشور است

اکثریت افغانها میدانند که موجودیت نیروهای اشغالگر در افغانستان به معنی تداوم جنگ وبه درازا کشیدن علت جهاد میباشد، ملت غیور افغان که در مقابل اشغال کشور دست به اسلحه زده است، یک فریضهء الهی را به جامی آورد وحق دارد تا از حریم دین، کشور و نوامیس ملی خویش تاحد توان دفاع نماید، همه کشورها در جهان دارای پرنیسپ های هستند که روی آن اختیار کامل مملکت، سرحدات، نظام و سرنوشت مردم خود را تصاحب میکنند وبه مبنای آن تصمیم چه گونگی روابط را به کشورهای دیگر مشخص میسازند، ولی اشغال کشورها توسط اجانب سبب میشود که هر ملت را از راهی که در چهار چوب باورها، منافع و اصول زندگی مردم خود انتخاب نموده باز گرداند، مانع شده و ملکت تحت اشغال ومردم آنرا به گرو گیرد، زمانی که آمریکا تجاوز نامشروع خویش را بر حریم مقدس کشور ما آغاز می نمود نماینده های اصیل وواقعی این مرز وبوم به صراحت تام برای شان هشدار دادند که اشتباه را مرتکب میشوند که بعدا به آن پیشمان خواهد شد، اکنون آمریکا و امریکا شناسان به همین باور اند که آمریکا در جنگ علیه افغانها هیچ چیزی را به دست نیاورده ولی در مقابل فرصتهای زیادی را از دست داد، امریکا یکتاز کشورهای دنیا بود واکنون به آن بهای بزرگ فروخته نه میشود، آمریکا توسط سخن خویش بسیاری از کشورها را زیر سلطه خویش نگهه میداشت ولی اکنون آن موقف را ندارد، اقتصاد آمریکا نشانه یی از زور وقدرت آن کشور به نظر میرسید ولی اکنون خودش قرضدار ترین مملکت در همقطاران خویش است، آمریکا توسط مادیات دست داشته خویش با خود می بالید ولی اکنون همه چیز برملا شده و آمریکا روبه زوال در حرکت است، اختلاف بالای قانون ازدیاد مالیه بر قشر پول دار در آمریکا، عدم باور بهبود اقتصاد وناتوانی در جلوگیری از فاجعه اقتصادی برای حاکمیت آمریکا سرگرمی و نگرانیء ازهمه کلانتر محسوب میشود، این همه ضربات در نتیجه آغاز جنگ زور گوی و متکبرانه این کشور بود، افغانها به آمریکا هشدار داده بودند که جنگ در افغانستان مثل جنگ در یوگسلاویا سابق نه خواهد بود، این مملکت ولو که محتاج است، فقیر است، سطحه دانش و سهولت های زندگی در آن پایین است ولی در غرور خویش همتا ندارد، این ملت، ملت باعقاید ولای اسلامي است، این ملت دارای اصول کرامت انسانی است که ظلم را به هیچ وجه تحمل نخواهد کرد، این ملت حوصله بلند جنگی در حین ضرروت دارد، این ملت را اسیر کردند ومنحرف نمودن قیمت بسیار گران میخواهد وتا اکنون هیچ کس به آن رسیده گی نه کرده است، ولی آمریکا این همه واقعت ها را باور نکرد و آن را تبلیغات میدانست !!!، اکنون شاید دانسته باشد که راه که خود انتخاب رفتن به آن را کرده است یکی از اشتباهات فراموش ناشدنی در تاریخ آمریکا خواهد بود.

همچنان ما بار دیگر به ملت آمریکا و سر مداران آن کشور به بسیار صراحت میگویم که اگر آمریکا خواسته باشد در این کشور بعد از شکست خویش تعداد از عساکر خویش را ترک نماید، پس این جنگ هر گز پایان نه یافته، آمریکا باید منتظر حالت بدتر از اکنون باشد، افغانها اجازه نه خواهد داد یک نظامی امریکا و کشور دیگر یورش گر در این خاک به آرامی به سر برد، این تنها سخن و تبلیغات نیست ما در عمل ثابت خواهیم کرد، ولی آن زمان که آمریکا این واقعیت را نیز پی میبرد بسیار دیر خواهد بود، در ضمن مزدوران داخلی امریکا هم باید بدانند که جنایات وخیانت های ملی را که در یازده سال تداوم اشغال علیه مردم خود و به نفع یورشگران مرتکب شدند به آنها بس است، نه باید هنوز هم بار مسئولیت ها و دوسیه ها جرمی خود را خود سنگین نمایند، آنها چون خواص ملت خویش را باباورهای که این ملت دارد خوب درک می نمایند پس نه باید هنوز هم خودرا در تغافل عارفانه قرار داده با خارجیها پیمان های نامشروع را امضاء نمایند، ما هر گز اجازه نه خواهیم داد که این ملت تحت اسارت باقی بماند، ما بخاطر نجات این مرز وبوم از همه وسائل لازم استفاده خواهیم کرد، ولی مسئولیت های بعدی بدوش همین مزدوران خواهد بود که هنوز هم یورش را علیه ملت خود به درازا میکشند، ما میدانیم که شاید این دسته از نا اهلان منافع شخصي خویش را توسط اقدامات نامشروع خود حفظ می نماید و در فکر آرامش خواهد بودند ولی هر گز چنین نه خواهد شد، این ملت قرار داد شاه شجاع را با انگلیس ها ترد کرد، این ملت پیمان کارمل را باشوروی سابق نه پذیرفت واکنون هم همان ملت به همان غیرت وهمت خود وجود دارد، پس در مورد باید هر افغان واقعی متوجه عواقب فاجعه آفرین تداوم اشغال و باقی ماندن نظامیان بیگانه در این خاک باشد، این چنین اقدامات که سبب طولانی شدن اشغال مملکت میشود ،خاک مارا به میدان بز کشی آمریکا با تعداد از کشورهای منطقه مبدل می نماید، جزء فیصله ضدمردمی و فروختن خاک خود چیزی دیگر نیست، اگر مزدوران امریکا خود را تحت فشار از طرف آمریکا می بینند، پس آن مجبوریت خود را باملت خود مطرح سازند، این ملت توانمندی آن را دارد که بیچاره و اسیر خویش را از ظلم نجات دهد، ولی راه حل این نیست که به سرنوشت مردم خود بازی کرد و در راه حفظ سروت های شخصی، منافع ملی و وجاهت اسلامي تمام کشور را به باد داد، کسانی که ضمیر اسلامي وافغانی دارند آنها درک کرده اند که بازیچه های امریکا در کشور ما بخاطر همین روز فربه شده بودند، ولی بهتر آن است که خود همین دست نشانده ها هم عوض در گیر ماندن در اسارت راه دیگر ومناسب تر را بر گزینند، به ملت پناه برند و از ملت خود خواستار یاری و همکاری شوند تا هیمن ملت آنها را از چنگال اشغالگران نجات دهد، این ملت، ملت باغیور است وهمیشه به درمانده گان خود دست یاری داده اند ولی شرط خواهش نمودند همین در ماند گان است تامعلوم شود که اینها تحت فشار و اکراه قرار دارند یا خود خواسته به منافع ملت خود بازی میکنند.

دمورچل دارُالاِفتاء

مفتي ابوماريه

دغنيمت دتقسيم څخه وړاندې که څه ملګري بېدرکه شول؟.

الاستفتاء: دير غلګرو سره جګړه وشوه بيادوه دري کسان دغنيمت دتقسيم څخه وړاندي کورته ولاړ ل مګرمورږ ته يې دکور درک نه معلوميږي اوس يې دغنيمت په برخه څه چل وکړو ؟اسدالله خان

الجواب حامدا ومصليا وبعد: غنيمت دې تقسيم شې دهغوئ برخه دي وساتله شې هروخت چې ومونډل شې خپله حصه دې ورکړه شې ، که چېرته ددغه مال ساتنه ګرانه وي اودمالکانو مونډل هم په غالب الظن ناشونې وي نوله يوه کاله وروسته دهغوئ برخه صدقه کولی شې. والله تعالی اعلم

في الهندية ٢١٧\٢ ولو أن جندا عظيما أصابوا غنائم وأخرجوها إلى دار الإسلام فلم يقسم حتى تفرق الناس ، وذهبوا إلى منازلهم ، ولا يعرف منازلهم ، وبقي البعض منهم أعطى الإمام الباقين أنصباءهم ، ويمسک حصة الغيب ، فإذا مضى سنة ، ولم يجيء لها طالب تصدق بها. ومثله في التاتارخانية ٣۴٩\۵

الاستفتاء **دملي پيوستون په باب :**

په دې حکومت کې يو ارګان دی په نامه د "همبستګي ملي "دغه ارګان خلکو ته پيسي ورکوي، ددې لپاره چې خلک په خپل کلي کې دکلي ويالې، پولچکان او سړکان جوړکړي . خو زمونږ پوښتنه داده :

چې کچېرې خلکو دغسې پيسې اخستې وي، پرلاره يې مجاهدينو مخ ونيوئ، آيا مجاهدينو ته روا کيږي چې دغه پيسې ددې خلکو څخه واخلي؟؟؟ آيا مجاهدينو ته روا کيږي چې ددې خلکو مخه ونيسي او دغه مذکوري پيسې ې ځې ضبط کړي، اوپرمجاهدينو باندي يې مصرف کړي؟؟؟

د "قلعه کاه فراه " دولسوالی یو مجاهد

الجواب حامدا ومصلیا وبعد: که چېرې دغه پیسې داشغالګرو وي نوترڅو چې ولسي وګړو ته نه وي رسیدلي اوهغه یې مالکان نه وي جوړشوې بلکې دیو معتمد په لاس کې وي مجاهدین کولی شې چې ځینې وایې خلې ، لاره ورته ونیسې ، په مجاهدینو یې مصرف کړي ، که بې دجنګه یې ونیسې بیت المال ته یې وسپاري.

اوکه دیرغلګرو ددوستانو یعني دکرزي داجیري اداري وي نو په هکله یې داسلامي امارت لایحه په ۳۳ ماده کې داسې وضاحت کوي:

33- هغه پیسې چې له عمومي خزانې ((بانک)) څخه راایستل شویې وې او دمعتمد په لاس کې وې او تر دې وخت پورې یې مزدورانو او مامورینو ته نه وې تقسیم کړې ؛نو که په جنګ سره ونیول شي دغنیمت په شکل دې تقسیم شي اوکه بې جنګه ونیول شي بیت المال ګرځي ، البته که دا پیسې مامورینو او مزدورانو ته ورکړل شوي وي بیا یې دغه مامورین اومزدوران مالکان ګرځي امام ،قاضي او د ولایت مسؤل کولای شي چې دغه کسانو ته تعزیر ورکړي خودغه پیسې ورڅخه اخستل کېدای نشي،دمؤسسودمزدورانو اجرت (مزدوري) هم دا حکم لري.

ماخذونه:

قال الله تعالی : وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُونَ(113) هود

دمعارف القرآن دتفسیر په ۲\تو‌ک ۵۸۱ مخ راغلی: بَلْ أَنتُمْ بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُونَ() النمل

یعني کله چې سلیمان علیه السلام دملکه بلقیس هدایاوي ردکړي نو.... دمسئلي تحقیق دادی چې که دکافرانو دهدایاو په قبلولو کې دمسلمانانو په کوم مصلحت کې خلل راتلل ،یا دکافرانو په حق کې دمسلمانانو په رایه کې کمزوري راتله نوبیا یې دهدیو قبلول جائز نه دي ، بحواله روح المعاني

وفي الحدیث : اوحی الله الی نبی من الانبیاء ان قل لقومک لایدخل مدخل اعدائي ولایلبس ملابس اعدائي ولایرکب مراکب اعدائی ولایطعم مطاعم اعدائي فیکون اعدائي کماهم اعدائي . الزواجر.. ۱۱\۱۱ لابن الحجر والفتاوی الرحیمیه ۳۳۱\۱۰ للاجبوري

وفي فتح الباري ۱۳۲\۵وجمع غيره بان الامتناع [اى امتناع قبول هدايا الكفرة] في حق من يريد بهديته التودد والموالات الخ. وفى المحيط ۷۱\۸ ومتى الحالة هذه لايجوز قبول الهدية لان سبيل المسلم ان يكون غليظا شديد ا على الكفرة الخ

په فتاوى حقانية ۳۴۱\۵کې راغلي: دکافرانو شيان اخستل په دي شرط جائز دي چې اسلام او اسلامي اقداربه ځيني متاثرنه وي. والله تعالى اعلم

آيا داسير دقتل ياخلاصون فيصله ترلوى اميرپوري اړه لري ؟

الاسفتاء : محترم مفتي صاحب داراته واضحه کړه چې داسيردقتل ياخلاصون فيصله ترلوى اميراونائب پوري اړه لري اوکه داچې دلګى مشر يابل مشريې هم کولى شې ؟المستفتي مع افغان

الجواب حامدا ومصليا وبعد: هو داسير دقتل ياخلاصون فيصله يواځې تر امام پوري اړه لري ، بل څوک په اسير دغه ډول فيصلي نشي کولاى؛

البته: که بندي مهم وي ، امام يا بل مسئول مشر ته يې رسول مشکل وي د يو عارض له امله:لکه د دښمن نږدي کېدل ، د بندي سختي له مجاهدينو سره ياداچې هغوئ يې له بيولو څخه واقعا عاجز شي نوبيايې همدغه مجاهدين هم په هکله فيصله دمرګ کولى شې.

في البحر ۳۳۳\۱۳ مايفعله الامام بالاسرى ؛ قوله وقتل الأسرى أو استرق أو تركهم أحرارا ذمة لنا) يعني أن الإمام بالخيار إن شاء قتلهم لأنه عليه السلام قد قتل ولأن فيه حسم مادة الفساد وإن شاء استرقهم لأن فيه دفع شرهم مع وفور المنفعة لأهل الإسلام وإن شاء تركهم أحرارا ذمة للمسلمين لما بينا إلا مشركي العرب والمرتدين فإنهم لا يسترقون ولا يكونون ذمة على ما نبين إن شاء الله تعالى وليس له فيمن أسلم منهم إلا الاسترقاق لأن قتله أو وضع الجزية عليه بعد إسلامه لا يجوز. قيد بكون الخيار للإمام لأنه ليس لواحد من الغزاة أن يقتل أسيرا بنفسه لأن الرأي فيه إلى الإمام فقد يرى مصلحة المسلمين في استرقاقه فليس له أن يفتات عليه .

وفي شرح سير كبير : باب قتل الأسارى والمن عليهم . قال عليه السلام: "ليس للمرء إلا ما طابت به نفس إمامه" إلا أن يعالجه الأسير ويقصد الانفلات من يده حتى يعجزه عن أن يأتي به الإمام، فحينئذ لا بأس بأن يقتله، قد فعل ذلك غير واحد من الصحابة

ذبیح الله (مجاهد)

خوشبی له خپل ولس سره

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ! مجاهد صیب زما پوښتنه داده چې امریکا غواړي ځینې عسکر په افغانستان کې وساتي ، اسلامي امارت یې په مقابل کې څه ډول تیاری لري ؟ ملا نور احمد همدرد

ځواب: وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته ، هو ! مورږ پخواهم ویلي ووامریکایان زمورږ خاورې ته د اوږدو موخو او پټو هدفونو لپاره راغلې او غواړي ترممکنه بریده خپل عزایم پوره کړي ، دغه د عسکرو ساتل په افغانستان کې هم دسیمې دتهدید او ویرولو لپاره دی او غواړي زمورږ هیواد په سیمیزه کچه له ډیرو نور هیوادو سره په مشکلاتو اخته کړي ، له بله پلوه امریکا غواړي زمورږ په هیواد کې یو سوچه اسلامي حاکمیت مینځته رانشي هغه چې زمورږ دپخوانې او اوسني جهاد ترټولو لوی هدف وو او ده ، امریکا غواړي په سیمه کې دیو تعداد عسکرو په نامه په عموم کې خپل موجودیت وساتي او زمورږ ټوله خاوره هروخت چې یې غوښتې وي په بیلابیلو نومونو استعمال کړي او په دې لاره کې به یې دکابل اداره په وړاندې هیڅ هم ونشي کړای ، خو داسلامي امارت سربښندونکې مجاهدین به دیوې ورځې لپاره هم اجازه ورنکړي چې امریکایان دلته د آرام ساه واخلي او یا په خپلو اډوکې محفوظ ووسي ،زمورږ جهادبه یې په وړاندې جریان لري ، هیوادوال به مو لاهم ددښمن بدې هیلې درک کړي ، کورنې اجیران به لا هم ښه وپیژندل شي چې د خپل ځان دبقا لپاره دهیواد له ملي ګټو ، استقلال او آزادۍ سره په څومره اسانۍ لوبه کولای شي ، په هغه صورت کې بیا نو هیوادوال او مجاهدین په هماهنګۍ سره پوهیږي چې دداسې فتنو په وړاندې باید څه وکړي او څرنګه خپله آزادي لاسته راوړي ،مورږ ددښمن ددغو ټولو دسیسو په وړاندې دجهاد ادامه یواځې وسیله اولار بولو چې کولای شی هم مورږ ته عزت را وبښي او هم مو هیواد او په طوفیلی ډول ټوله سیمه دامریکایی استعمار له

منګولو وژغوري ، هیله ده دهیواد ځوانان لاهم ددې مسئله حساسیت او خپل مکلفیت ته ځیر شي او دخپلو مجاهدین ورونو لاهم ټینګه ننګه او کلک ملاتړ وکړي. مننه

محترم مجاهد صیب زما سلامونه او نیکې هیلې ومنه، خدای تعالی دې وکړي چې تاسو او ټول مجاهدین ورونه خوښ او خوشحاله واوسئ، زما پوښتنه داده چې داسلامي امارت لائحه چې دمجاهدینو لپاره تیاره شوي ده ځینې ځایونو کې دهغې نه سرغړونه تر ستر ګو کېږي تاسو ددې مسئلې دحل لپاره څه تدابیر لرئ؟ که ځواب مو راکړ خوښ به شم. ننګیالی

ځواب ـ وعلیکم السلام ! اسلامي امارت دمجاهدینو دنظم او فعالیتونو دښه والي او په عین حال کې د اسلامي قوانینو دښه رعایت لپاره ځانګړې لائحه تیاره کړې چې عملي کول یې په هرمجاهد باندې واجب دي ، ځکه له یوې خوا دغه دلائحې مواد دشریعت احکام دي اوله بله پلوه دامیر امر چې ددواړو اطاعت واجب ده ، نو ځکه هرمجاهد مکلف ده چې هره هره ماده په دقت سره ولولئ ، ځان پرې پوه کړي او بیا عمل پرې وکړي ، داسلامي امارت ټول مافوق مسئولین په ټولو برخو کې مکلف دي چې په ماتحت باندې داسلامي امارت لائحه ټکی په ټکی عملي کړي او که خدای مکړه چې چېرته سرغړونه ولیدل شي حتما به مسئول کسان مجازات کېږي او دنه اصلاح په صورت کې حتی له کاره کېښنول کېدلی شي او له صف نه اخراج کېدلای شي ، ستاسو محترم نه او ټولو هیوادوالو نه هم زمونږ امید داده چې دمجاهدینو لخوا د لائحې په مادو نه د سرغړونکو په اړه مونږ ته بې پرې او کره معلومات راکړئ مونږ به یې په ټوله ممکنه طریقه مخه نیسو او له سرغړونکو سره به دقانوني لارو چارو نه اجرات کوو ، ستاسو له تشویش او معلوماتو نه یوه نړۍ مننه.

محترم مجاهد صیب زما لخوا سلامونه او نیکې هیلې ومنې !

زما پوښتنه داده چې اسلامي امارت ولې دهغو امریکایانو په وړاندې دخپلو مجاهدینو په وسیله جدي ګامونه نه اخلي چې دااوس اوس لګیادي خپل ټانکونه او نور جنګي وسائل د اکمالاتي ټیلرونو په وسیله د مختلفو لویو لارو نه باسي او مخ په پاکستان یا تاجکستان روان دي ؟ هیله ده ځواب راکړئ ، بشیر عائل

ځواب ـ وعلیکم السلام ! ستاسو تشویش په ځای دی، ان شاءالله مجاهدین به پخپل ټول قوت هغولارو ته متوجه وي چې زمونږ هیواد له ګاونډیو هیوادنو سره ترې او بیا په دغو لارو د تښتیدونکو امریکایانو او ملګرو لخوا یې نظامي وسائل ایستل کېږي ، ددوئ ددغو وسائلو غنیمت کول او یا له منځه وړل زمونږ لویه هیله ده ، دا اوس به تاسو زمونږ دخبري منابعو څخه اورئ چې زمونږ مجاهدین دبغلان ولایت په مختلفو سیمو کې او

هم دننگرهار ، میدان وردګو ، غزني ، زابل او کندهار په لویولارو ددښمن ددواړو خوا نه اکمالاتي او تښتیدونکې کاروانونه ځاري او بریدونه پرې کوي ، خویوځه شته چې دژمي دیخنۍ له وجې په دغو لارو کې تل کمینونه نیول ګران وی نو مجاهدین داکار په وقفوي ډول کوي ، خو ان شاءالله چې څرنګه په هیواد کې هوا بیرته د تودوخي خواته ځي نو به دیو منظم پلان له مخې هم داکمالاتي او د تښتیدونکو امریکایي کاروانونو په وړاندي جدي ګامونه پورته کېږي ترڅو یې وسائل غنیمت یا له منځه یوړل شي ، دا دوه ورځې کېږي چې

۴ دننګرهار ولایت په جلال آباد او تورخم سړک باندي ۸ امریکایي ټانکونه چې په ټیلرونو کې بارووو دمجاهدینو لخوا په ماین الوزول شوي او مکمل حریق شوي دي البته دغه ټانکونه هم دتورخم دلارې دپاکستان په لور تښتیدونکی امریکایي کاروان وو . مننه.

بناغلي مجاهد صیب السلام علیکم !

زما سوال دادی چې داسلامي امارت سایټ ډیر وخت بندوي چې داڅه وجه ده ،آیاآدر سونه مو بدل کړي او که نه بله وجه یا مشکل ده ؟محمود دپوهنتون محصل

ځواب ـ السلام علیکم !

تاسو ته به معلومه وي چې موږ له ډیر یو قوي دښمن سره په جګړه کې بوخت یو او په عین حال کې ډیر متکبر او مغرور دښمن هم ده چې هیڅ دنیاوالو اصولو ته ځان ژمن نه بولي ، داډیر موده کېږي چې زموږ په الاماره ویب پاڼه باندي په کراتو په غیرقانوني ډول ددښمن لخوا بریدونه کېږي او خرابیږي ، اګرکه زموږ تخنیکي مسئولین هڅه کوي چې ددښمن دغه حملې شنډې کړي مګر داچې دښمن په تخنیکي لحاظ ډیر مجهز ده نو په نویو لارو او طریقو یا په ډیرو مصارفو سره زموږ پاڼه چې صرف واقعیتونه خپروي نشر ته نه پریږدي سره له دې چې دوئ دځان دګټو په مهال بیا دبیان دآزادۍ له شعاره ښه په درز کې استفاده کوي ، ،ولي که څوک ددوي په مقابل بیا هغه دبیان له ازادۍ نه ګټه پورته کوي نو بیا یې دوي دخپل تکبر له وجهې فعالیت ته نه پریږدي او په بزدلانه شکل ستونزې ورته ایجادوي ، خو موږ یې مقابلې ته چمتویو اوس مو هم سره له دې چې دوي ډیر امکانات په لاس کې لري ډیر فعالیت په نشراتي برخه کې کړي او دالاماره سایټ مشکل به هم ان شاءالله په نیږدې راتلونکې کې په اساسي ډول حل شي.

قاضي حسين احمد (رح)

داسلامي ويښتابه اوحريت

ځلانده ستوری!

لطيف عزم

قاضي حسين احمد (رحمه الله) چې دجنوري په ۲ نيټه د ۷۴ کلونو په عمر وفات شو، دغه ستره هستی که څه هم دپاکستان ديوه مذهبي ګوند مشر اويومنظم اومسلط لارښودپه توګه پاتې شوی، خوسياسي، مذهبي اواجتماعي حيثيت ډيرلوړ نړيوال اوداسلامي امت ديوه ځيرک اودلسوزه مشر ځاي اومقام يې حاصل کړی وو اوداسلامي ويښتابه اوحريت يوځلنده ستوری ګڼل کيده!

مرحوم ددې ترځنګ چې جماعت اسلامي ډله يې ژوندی اوخوځنده ساتلي وه دعصري پوهي په يوې لويې طبقي اوپه خاص ډول په پوهنتونو اونورو علمي مراکزو کې په لکونو ځوانان، استادان اونورخلک دځان پاخه ملګري جوړکړي وو

ويل کيږي چې قاضي صاحب په خپل ګوندي دعوت کې دومره خوځنده اوله کمالاتو ډک ووچې يواځې په کال ۱۹۹۷ کې چې دجماعت اسلامي دممبرجوړيدنې کمپاين اعلان شوي وو ۴۷ لکه تنه په جماعت اسلامي کې شامل اوداخل کړل

دپاکستان دډان نيوز په خپلې يوتبصرې کې ويلي: دادقاضي صاحب ترحم اوبرکت ووچې دده ترسرپرستي لاندې په پاکستان کې بې شميره خيره اداري، کلينکونه، مدرسې، تعليمي مراکز په وړياډول جوړکړل شوي دي، له زلزله ځپلو، جګړوځپلو

اوفقراووسره دقاضي صاحب په ځانګړې توجه چې څومره مرستې ترسره شوي بل هیڅ اداره اوسازمان يې مثال نشي وړاندې کولای !

هو ! دادې قاضي صاحب خصوصیت ووچې دسیاست په میدان کې يې په لمن چاداسې داغ نه وومونډلای چې دچاورځخه نفرت اوکرکه راشي ، دخبرې اوعمل ترمنځ يې توپیر نه وو ، یوسالم اجتماعي اوله اسلامي غرورنه ډک فکر اوجرات يې درلود ، دټول عالم اسلام په قضایاووکې يې دیوه رښتیني مسلمان په توګه ځان شریک باله ، دنړۍ په هرکونج اوکنارکې به چې دمسلمان چیغه اوناره پورته شوه قاضي صاحب به ورسره خپل غږ اوخواخوږي له ځنډ پرته غبرګوله

دادقاضي صاحب ایماني غروراوغیرت ووچې دروسانواوکمونیستي یرغل په خلاف يې دافغان ولس ننګه اوملاتړوکړ ، دمجاهدینواکمال ، دجګړې دزخمیانو ،متاثرینو اولکونوافغان مهاجرینوپالنه يې په خورامرحمت اوپراخه حوصله سرته رسوله

داقاضی صاحب ووچې دروس په خلاف افغان جهادیې تنهادموسمي اوسیاسي حالاتوله وجې نه تایداوه بلکې دژوندترپایه يې هغه جهادجهادباله اوافتخاریې پرې کاوه

همدغه قاضي صاحب ووچې دامریکایي یرغل په مقابل دپاکستان دنورویوشمیراسلامي ډلوترڅنګ يې دافغان ولس شاته ودریدیرغل يې محکوم کړ ، پراخې مظاهرې اولاریونونه يې پهلاره واچول اوپه هرې مرکې اووینا کې به يې په افغانستان کې دروان جهادحمایه اودفاع کوله

یوبله مهمه موضوع که څه هم پرمونږ پورې دومره اړه نلري خوله قاضي صاحب سره دربط له وجې اشاره ورته کول غواړو

په دې خبره کې شک نه ووچې دپاکستان علمای کراموا ومشایخو دجماعت اسلامي دباني اومشر مولانامودودي یوشمیرنظریات اوافکار ردول اوهغه يې له دیني ګستاخي سره مرادف بلل ،خوچې کله قاضي صاحب دجماعت اسلامي دمشرپه توګه منځ ته راغی هغه داکمال وکړ اودمولانامودودي ځیني اختلافي نقطي اوپارونکي تالیفات يې دخپلو دیني پوهانوپه مرسته څه ناڅه نرم اواصلاح وګرځول اوپه دې حکمت سره يې دعلماووا ومشایخونزدیکت ته لاره اواره کړه ، مهم علت يې داوه چې قاضي صاحب دیوه

نامتو او متبحر عالم مولانا قاضی محمد عبدالرب صاحب چې د خپل عصر یو مسلمان سیاستدان وو او له دیوبندي فکر او مسلک سره یې ژوړې ریښې درلودې ځوی وو او هغه دځه وخت لپاره د دیوبند جمعیت العلمای اسلام له لوري د پاکستان د سرحد صوبې د جمعیت علمای اسلام د صدر په توګه هم پاتې شوی ، د همدغه تعلق له وجې یې هغه د دیوبند د مشهور محدث او موسس شیخ الاسلام مولانا حسین احمد مدنی رحمه الله نوم تبرکا په خپل ځوی حسین احمد کینبود

قاضي صاحب داسلامي امت په مسایلو او پیښو کې دومره باریک بین او له غم خواری ډک هستی وه چې کله صدام حسین په کویټ حمله وکړه قاضي صاحب لدې وجې چې په دې پیښه کې امریکا او نور واستعماري قوتونو ته دلاس وهنې او مداخلې پلمه په لاس ورنشي نو داکثرو اسلامي هیوادونو له مشرانو سره یې وکتل او ترینه وې غوښتل چې نوموړي موضوع ته عاجل اسلامي حل پیدا کړي ، کنه ګڼه به یې اسلام دښمنه هیوادونه چې په سرکې یې امریکاده ترګوتو کړي ؛ صدام حسین یې هم د عراقي سفیرانو په واسطه وپوهاوه چې ستاد دغه اقدام شاته د اسلام او مسلمانانو لپاره لوی ګرنګ کنل شوي نو ژرتر ژره باید له کویټ څخه خپل پوځیان له قید او شرط پرته وباسي

داسلامي هیوادونو د مشرانو دبې حسی او امریکا نوازی او د صدام د سرتمبګی له وجې د قاضي صاحب هلوځلو نتیجه ورنکړه ، هماغه ووچې امریکا اسلامي حریمونه پایمال کړل ، عملا یې مداخله وکړه په عراق یې برید پیل کړ او په عربي خاورو کې یې پخي اډې او ځالي جوړې کړي

دا نن چې د عراق او افغانستان خاورې پلیتو امریکایانو په زیاتې اسانی سره اشغال او په ترخ کې یې په پاکستان هم نارواډرون برید ونه سرته رسیږي او په ټول عالم اسلام امریکایي بلوسي دوام لري علت یې هماغه د قاضي صاحب او دده په څیر د نورو د ردمنو مسلمانو مشرانو فریادونه او خبرداری وي چې متاسفانه چاغوږ ورته کینبود او هغو داسلامي امت دوحدت ټول ارمانونه او دځارخپلی حالت درانه غمونه ګورته له ځانو سره یوورل ، الله تعالی دې د قاضي صاحب خدمتونه او هلې ځلې قبولي او جنت الفردوس یې نصیب وګرځي ! (امین)

((داسلامي امارت دریځ))
کتاب ته لنډه کتنه

میوند سادات

په دې وروستیو کې دافغانستان اسلامي امارت دفرهنګي کمیسیون له لوري ((داشغال په وړاندي داسلامي امارت دریځ)) په نوم کتاب پرښه سپین کاغذ او ښکلي صحافت چاپ شو، په کتاب کې دعالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله)پیغامونه ،دامارت اعلامیې ،دمحترم ملاعبدالغني «برادر» ،مولوي جلال الدین حقاني صاحب ،قاري محمد یوسف احمدي او ذبیح الله مجاهد خورا په زړه پوري مرکې او څرګندوني اوډل شوي دي او په ټولیزه توګه په دغه کتاب کې ټولټال ۱۳۵عنوانونه راغلي دي.

داسلامي امارت دریځ (کتاب) په خپل ډول کې یو بېساری پرمختګ بلل کیږي ،ځکه تردې مخکې داسلامي امارت دموقفونو کومه ټولګه نه وه چاپ شوې ،بل داچې څېړونکو به داسلامي امارت اړوند معلومات له رسنیو او ژورنالیستانو له راپورونو او یادښتونو څخه اخیستل چې ترډیره حده یو طرفه او خیالي انګیرني وې نه ثقه معلومات.

داسلامي امارت دریځ په لنډي سریزي پیلیږي چې په لومړي او وروستي پاراګراف کې لولو:

دیویشتمي پیړۍ پیل چې نړیوال یې دډیالوګ ،بشري خواخوږۍ،زغم او تمدن دورګڼي ،برعکس پرافغان ملت دعصري وحشت او ماډرن جاهلیت خونړۍ پیل ؤ. دیوولسم سپټمبرد پیښي په بهانه دغربي تهذیب او تمدن سروالانو دامریکا په مشرتوب د۲۰۰۱ز،داکتوبر پر۷مه نیټه پرافغانستان ناروا او وحشیانه یرغل وکړ. په لسها ووزره افغانان یې شهیدان او ټپیان کړل ،کلي ،کورونه او شنه باغونه یې ویجاړ کړل ،پرودونو ،جنازو او جرګو یې ټنونه بمونه او کیمیاوي (سپین پاسفورس او.....)مواد استعمال کړل. پخواني کمونسټ مسلکې قاتلان او هغه دسپېڅلي جهاد بدنامونکې ټوپکسالاران یې چې

((داسلامي امارت دریځ))
کتاب ته لنډه کتنه

میوند سادات

په دې وروستیو کې دافغانستان اسلامي امارت دفرهنګي کمیسیون له لوري ((داشغال په وړاندي داسلامي امارت دریځ)) په نوم کتاب پرښه سپین کاغذ او ښکلي صحافت چاپ شو، په کتاب کې دعالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله)پیغامونه ،دامارت اعلامیې ،دمحترم ملاعبدالغني «برادر» ،مولوي جلال الدین حقاني صاحب ،قاري محمد یوسف احمدي او ذبیح الله مجاهد خورا په زړه پوري مرکې او څرګندوني اوډل شوي دي او په ټولیزه توګه په دغه کتاب کې ټولټال ۱۳۵عنوانونه راغلي دي.

داسلامي امارت دریځ (کتاب) په خپل ډول کې یو بېساری پرمختګ بلل کیږي ،ځکه تردې مخکې داسلامي امارت دموقفونو کومه ټولګه نه وه چاپ شوې ،بل داچې څېړونکو به داسلامي امارت اړوند معلومات له رسنیو او ژورنالیستانو له راپورونو او یادښتونو څخه اخیستل چې ترډیره حده یو طرفه او خیالي انګیرني وې نه ثقه معلومات.

داسلامي امارت دریځ په لنډي سریزي پیلیږي چې په لومړي او وروستي پاراګراف کې لولو:

دیویشتمي پیړۍ پیل چې نړیوال یې دډیالوګ ،بشري خواخوږۍ،زغم او تمدن دورګڼي ،برعکس پرافغان ملت دعصري وحشت او ماډرن جاهلیت خونړۍ پیل ؤ. دیوولسم سپټمبرد پیښي په بهانه دغربي تهذیب او تمدن سروالانو دامریکا په مشرتوب د۲۰۰۱ز،داکتوبر پر۷مه نیټه پرافغانستان ناروا او وحشیانه یرغل وکړ. په لسها ووزره افغانان یې شهیدان او ټپیان کړل ،کلي ،کورونه او شنه باغونه یې ویجاړ کړل ،پرودونو ،جنازو او جرګو یې ټنونه بمونه او کیمیاوي (سپین پاسفورس او.....)مواد استعمال کړل. پخواني کمونسټ مسلکې قاتلان او هغه دسپېڅلي جهاد بدنامونکې ټوپکسالاران یې چې

طالبانو شړلي وويوځل بيا پر افغان ولس وتپل. دمخدره موادو کراوقاچاق،دايډزوژونکې ناروغي ،دمنسوخ اوتحريف شوي نصرانيت تبليغ ، اداري اواخلاقي فساد ،بې کاري، غلاوو ،ماشوم تښتونو او..... پر افغان ولس خپل کرغيړن وزرونه وغوړل. له بلي خوا بيا همدې دډيموکراسۍ اتلانو په افغانستان کې دعقيدوي ،فکري اوعنعنوي انحراف لپاره په کوردننه اوبهر په سوونو چاپي اوبرښنايې رسنۍ فعالي اواستخدام کړي دي چې شپه اوورځ په خپلو تبليغاتو سره زمونږ د ملي ويارونو مسخه کول غواړي .په ملي اتلانو مولکه محمود غزنوي ،ميرويس نيکه ،احمد شابابا ،وزيراکبرخان،محمد جان خان ،ملامشک عالم ،دهډې ملاصاحب ،ايوب خان ،ملالۍ ،ناهيداوپرلاروياونويې ملنډې وهي ، دسومنات ماتيده ،دپاني پت سوبه ،د«لته بند»اوميوند غزاګاني اوبرياوي اودسروو حشي لښکروپرضد افغان ولس مبارزه هسي دوخت اوانرژۍ ضياع ګڼي. جهاد ترهګري ،مجاهد تروريست ،خپلواکې دنړيوالتوب(ګلوبلايزيشن) له پرمختګ اواستراحت ! !څخه بغاوت او اسلامي نظام انتهاپسندي بولي ،مګردګمراکوونکو فلمونونداره ،فحشاء اوفساد دبيان دازادۍ ،عصري توب ،بيارغوني اوپرمختګ تمرين ګڼي.داټول په داسي حال کې چې خپل ځانونه دبيان دازادۍ دفاع کونکې اودبشريت خواخوږي بولي اوپه نورويې دتبري تورونه پوري کوي.

ستاسي په لاس کې کتاب (داسلامي امارت دريځ) به تړه پره بريده دحقيقت پلټونکوسره دحقايقوپه بيانولواو دوقايعو په څرګندولو کې مرسته وکړي ، دتبري لسيزي دحقايقوپه روښانولوسره به اغېزمن شوي افکاراو تياره اذهان تنوير کړي په تېره بيا افغان ځوان کهول ته به دخپل هيوادد سياسي ،جهادي- پوځي اوټولنيزو پېښوپه اړه به داسلامي امارت دريځ اوواقعيتونه روښانه اووړاندي کړي.

په کتاب کې ترسريزي وروسته د«څوخبري»ترسرليک لاندي دطالبانو داسلامي تحريک دپيل ،چټک يون اودواکمنۍ پرمهال دپوځي ،سياسي ،تعليمي اوټولنيزو پېښو اوپه ټوله کې دکورنۍ تګلارې اوبهرنۍ پاليسي اړوند ډيره ګټوره تحليلي اومعلوماتي مقاله راغلې ده ، چې تردې مخکې په کوم کتاب اويارسنۍ کې په همداسي موثق ډول داسلامي امارت په اړه څه نه دي وړاندي شوي .

فرهنګي کميسيون تردې (داشغال په وړاندي داسلامي امارت دريځ)کتاب مخکې «په افغانستان کې زندانونه اوناويلي حقايق»په نوم کتاب چاپ اوخپور کړ، په دغه کتاب کې دګوانتانامو وحشي زندان اوپه افغانستان کې دننه دبګرام ،پل چرخي ،کندهارعمومي اوامريکايې محبس اونورو زندانونو اړوند اجمالي معلومات ،دمجاهدينو له لوري پرله

پسې په ځوولايتونوکې دزندانونوماتيدل ،دعيني شاهدانومشاهدې اوځرګندوني اودزندانونو ناوړه وضعيت په کې توضيح شوي دي .

فرهنګي کميسيون دبرېښنايې مطبوعاتوپه برخه کې دالاماره په نوم وېبسايټ جوړکړی اودهغه دښمن چې دبيان ازادۍ شوراوځوړېې نړۍ پرسراخيستې دپرله پسې بريدونوسره سره همدايادە شوې وېبپاڼه سمبالوي اوچلوي.الاماره وېبپاڼه په پښتو ،دري ،عربي ،اردواوانګيزې ژبوبيلي بيلي څانګې لري اوپه هره يوه کې يې تازه تازه جهادي خبرونه ،راپورونه ،تبصرې ،علمي اوسياسي مقالې خپرېږي ،دغه رازداسلام په نوم پاڼه لري چې پربيلابيلودينې موضوعاتوليکنې په کې خپرېږي اوپه ځانګړې توګه دنړۍ له ګوټ ګوټ څخه دخلګودينې – فقهي پوښتنوته ځوابونه ورکوي.

دالاماره سمبالونکې ډاکټرطارق غزنيوال صاحب په ويناچې الاماره وېبپاڼه په مياشت کې ديرش لکه(۳۰۰،۰۰۰) ليدونکې اولوستونکې لري. دادليدونکوهغه شمېر دی چې ډيري رسنۍ دومره لوستونکې اوليدونکې نه شي موندلی.

دغه رازفرهنګي کميسيون دچاپې رسنيوپه ډګرکې مورچل ،څرک اوشهامت په پښتواودري ژبو ،الصمودمياشتنۍ په عربي ژبه اوشريعت مياشتنۍ مجله په اردوژبه خپروي.په يادوشومجلوکې سياسي ،جهادي ،علمي ،تحقيقي اوادبي مضامين ،دمجاهدينومرکې ،دشهيدانوژوندليکونه اوپردښمن دمجاهدينوبريدونوخبرونه ،راپورونه اواحصائيې خپرېږي.

همدارازدفرهنګي کميسيون دسمعي اوبصري څانګې په چوکاټ کې دالاماره ،منع الجهاد ،الهجرت او.....ستړۍيوګانوله لوري دجهادي عملياتو ،استشهادي ،جبهې اوچريکې بريدونوژوندۍ صحنې خپرېږي تردې مهاله يې ترپنځوس ډيري ويډيوګاني شايع کړي دي.ويډيوګاني اوچاپې مجلې ډيرزيات مينه وال لري اودځوان پښت په سالمه روزنه کې يې خورا پراخه ونډه لرلې ده.

داسلامي امارت دريځ (کتاب)په چاپ سره دفرهنګي کميسيون له لوري دچاپ شووکتابونوشمېردوولس (۱۲)عنوانه تەورسيد ، شايقين کولای شي چې همداکتاب په بيلابيلوکتابپلورنځيوکې ترلاسه کړي ،په دې هيله چې دريځ هرومروولولئ اونوروته يې دلوستلوترغيب ورکړئ !والسلام.

نورستا قضاوت

کمونست جنرال نړیوال ریکارډ خپل کړ !!

له هغې ورځې چې (جنرال رشید دوستم) د کابل دګوډاګۍ ادارې د پوځ د (درستیزوال) په توګه رسمي امتیاز اخلي، نږدې (لس کاله) تېرېږي، خو په دې یوه لسیزه کې یې یوه ورځ هم حاضري نه ده ورکړې او د غیرحاضرو ورځو شمېر یې (۳۶۶۰) ورځو ته رسېږي. دا د نړۍ په تاریخ کې د ناقانونۍ او غیرحاضرۍ یو بې ساری ریکارډ دی چې دوستم خپل کړی دی. جنرال دوستم د جنبش د ډلې مشر چې د ۱۹۹۰ زیږدیز کال په لومړیو کې په کابل کې په جنګي جنایاتو کې ښکېل دی او ګڼ بې ګناه افغانان یې وژلي دي. د طالبانو د حکومت وروسته د کابل د دفاع په وزارت کې مهمه پوځي څوکۍ ورکړل شوې ده. په همدې حال کې د چارو یو شمېر کارپوهان وایي، چې رشید دوستم نه یوا ځې خپلې دندې ته حاضري نه ده ورکړې بلکه نوموړی په تېرو لسیزو کې په ډلخ ییزه توګه افغانان وژلي دي. د سیاسي چارو شنونکې حسن ولسمل ژوندون راډیو ته په دې اړه وویل، ((چې دوستم یو ستر جنایتکار انسان دی او په تېرو لسیزو کې یې ګڼ شمېر افغانان وژلي، په مزار شریف کې څلورنیم زره طالبان ژوندي په کانیټرونو کې سیند ته غورځولي دي. اوس مهال هم په افغانستان کې د کمزورې ادارې شتون، دوستم ته ددې وخت ورکړی، چې په غیرې قانوني توګه له خپلې دندې لوړ امتیازات ترلاسه کړي.

جنګي يتونه

سید سعید

دتبر ۲۰۱۲ز، کال دوروستۍ (ډسمبر) میاشتي پر ۳مه نیټه د فراه ولایت دګلستان ولسوالۍ دغني مرغ په سیمه کې یرغلګرو په عملیاتو کې څلورتنه ملکي هیوادوال بندیان کړي دي.

دډسمبر پر۵مه نیټه داشغالګروبې پلوټه الوتکود نورستان ولایت د کامدیش ولسوالۍ دبازګل کلي ته څېرمه نهه تنه ولسي هیوادوال (۴تنه نارینه او۵تنې ښځې) چې په لاره پلي روان وو، په ننبه کړي چې ټول شهیدان شوي دي. یاده شوې پینبه دنورستان ولایتي چارواکې هم مني، خو د جزئیاتو له ورکړې یې ډډه کوي.

دډسمبر پر ۵مه نیټه یرغلګرواو داخلي پوځیانود نیمروزولایت دخاشرودولسوالۍ درباط عبدالخالق په سیمه کې دعملیاتو پرمخت یو ښځه زخمي کړې او پنځه تنه ولسي وګړي بندیان کړي دي

.

دډسمبر پر۶مه نیټه نیواکګرو ځواکونو دنورستان ولایت په وانت وایګل ولسوالۍ کې پنځه تنه ولسي وګړي شهیدان کړي دي، دغه پینبه اوپکې دملکي هیوادوالو تلفات دنورستان والي تمیم نورستاني هم تائید کړي دي.

دډسمبر پر۷مه نیټه اشغالګروعسکرودننګرهارولایت خوګیانو ولسوالۍ په ترمي سیمه کې دچاپې پرمهال دوه تنه ولسي هیوادوال شهیدان کړي دي. دغه رازپرهمدغه نیټه یې ددغه ولایت د شیرزادو ولسوالۍ په ستره ترمه سیمه کې خلګو کورنه تلاشي کړي، مالي زیانونه یې ورته اړولي اوبیایې درې تنه ولسي هیوادوال شهیدان کړي اوګڼ نورکسان یې وهلي دي.

دډسمبر پر۷مه نیټه یرغلګرود لوګرولایت دادوخیل کلي باندي یرغل کړی، دتلاشۍ په وخت کې یې دکورونه څخه نغدي پیسې اوګڼې وړې او په اخرکې یې دوه تنه ملکي هیوادوال بندیان کړیدي

.

دډسمبرپر ۸مه نیټه نړیوالورسنیو دامریکایې چارواکوله خولي خبرورکړ چې:دوه سوه (۲۰۰)افغان ماشومان په بګرام کې بندیان دي ،خودبشري حقونودیوې فعالې ټیناپه وینا چې دبګرام زندان کې یې دیاد شوي شمېرڅخه ډیرزیات نوربندي ماشومان هم لیدلي چې امریکایانویې دنوم ثبتولواجازه نه ورکوله.

دډسمبرپر۸مه نیټه اربکې ملېشو دتخارولایت د فرخارولسوالۍ دخسدي په کلي کې د ولسي وګړوپرکورونویرغل کې خلګوته مالي زیانونه اړولي اودوه ماشومان یې ټپیان کړي دي

دډسمبرپر ۱۰مه نیته اربکیانود کندهارولایت دمیوندولسوالۍ دګرماوک د مشک کاریزپه سیمه کې یولس کلن ماشوم شهید کړی دی.

دډسمبرپر۱۰مه نیټه د کاپیساولایت دتګاب ولسوالۍ دنوروزخېلوسیمه کې دداخلي اوخارجي پوځیانودقرارګاه څخه توغول شوې دهاوان مرمۍ پریوکورراپریوته چې له کبله یې څلورتنه ولسي وګړي ژوبل شول.

دډسمبرپر ۱۲مه نیټه یرغلګرود غزني ولایت مرکز اړوندقرباغي کلي کې دیوولسي وګړي پرکورچاپه وهلې ،دتلاشۍ پرمهال یې په یادشوي کورکې څه پوځي توکې نه دي موندلي ،خودپلارپه ګډون یې درې زامن چې ټول ملکې خلګ وواسیران کړي دي.

دډسمبرپر۱۴مه نیټه داخلي عسکرود زابل ولایت مرکز اړوند بیلابیلوسیمو کې زیات شمېر ولسي وګړي د دیني عالمانو اوسپین روبوپه ګډون ډیرسخت وهلي دي چې له امله یې دځینوپوزي او دبدن ن ورغړي مات شوي دي ،ژوبل کسان کندهارکې میرویس روغتون ته انتقال شوي دي.

دډسمبرپر۱۲مه نیته اشغالګروځواکونودکندهارولایت دخاکریز اوشاولیکوټ ولسوالیوترمنځ دګري په سیمه کې دطالبانوسره ترنښتي وروسته نهه تنه ولسي وګړي چې ۵تنه یې په یوتراکتورکې سپاره وواو۴تنه یې له کورونورا ایستلي اوشهیدان کړي دي.

دډسمبرپر ۲۰مه نیټه اربکې ملېشو دغزني ولایت دشلګرولسوالۍ په علم خیل سیمه کې ملاامام (مولوي صاحب غلام علي) پرکورچاپه وهلې ،دتلاشي پرمهال یې نغدي پیسې اوګېڼې غلاکړي اوبیایې نوموړي مولوي صاحب شهید کړی دی.

دډسمبرپر۲۱مه نیټه نیواکګروعسکروداروزګان ولایت دچهارچېنو ولسوالۍ دخوناوي په سیمه کې چاپه وهلې ده ،درې تنه ولسي وګړي یې لومړی وهلي اوبیابندي کړي او وروسته یې ددغه کلي په مسجدکې استوګن یوطالب العلم شهید کړی اودوه تنه یې ژوبل کړي دي.

دډسمبرپر۲۴مه نیټه دسرپل ولایت دصیاد ولسوالۍ په قره خوال سیمه کې دقومندان سیف الله اربکیانویوه پیغله نجلۍ اوموریې په شهادت رسولي دي ،خبرلیکې چې:یواربکې له یوکلیوال (مومن

)څخه دهغه دلورغوښتنه وکړه ،مومن دلورورکولوڅخه انکاروکړچې په غبرګون کې يې دياد شوي قوماندان اربکيانو دنوموړي پرکور حمله وکړه اولورا ومیرمن يې وروژل .

دډسمبرپر ۲۴مه نیټه نیواکګرود دکونړولایت دشیګل ولسوالۍ په موړي کلي کې د يرغل پرمهال دولسي خلګو کورونه تلاشي کړي ،مالي زیانونه يې ورته اړولي اوپنځه تنه يې دبندیانو په توګه له ځان سره نامعلوم ځای ته وړي دي.

دډسمبرپر۲۵مه نیټه اشغالګرود هلمندولایت دنادعلي ولسوالۍ دباري ګل بازارپه سیمه کې دچاپې پرمهال درې تنه ملکي هیوادوال اسیرکړي دي.

دډسمبرپر۲۸مه نیټه اربکي ملیشودضابط شیرین په مشري دکاپیساولایت د تګاب ولسوالۍ دجوییارسیمه کې دملکي هیوادوالو(اغاګل، طوطی او امرالله)دکورونو دروازې په راکټ ویشتلې اوبیايې وکورونوته اوراچولی دی ،عیني شاهدانورسنیوته ویلي چې یادشوي کسان ولسي وګړي دي اوترا وسه نه پوهیږي چې اربکیانويې په څه وجه کورونه سوځولي دي.دوی زیاتوي چې دغواربکیانو دولسوالۍ په بازارکې دخیالي ګل آکا په نوم یو ۷۰کلن سپین ږیری داسي وهلی دی ، چې اوس دکوماپه حالت کې په روغتون کې پروت دی.

دډسمبرپر۲۹مه نیټه اربکیانو دنورستان ولایت دکامدیش ولسوالۍ په ارموروسیمه کې دوه تنه کلیوال په ننښه کړي يويې ځای پرځای شهیدشوی اوبل تن ژوبل شوی دی.

دډسمبرپر۳۰مه نیټه نیواکګرود میدان وردګ ولایت دسیدابادولسوالۍ دتنګي درې په ګلي خیل سیمه کې چاپه وهلې ،دخلګو کورونه يې تلاشي کړي اودوه تنه ولسي وګړي اسیرکړي دي.

دډسمبرپر۳۰مه نیټه اشغالګروځواکونوهروزګان ولایت دخاص روزګان ولسوالۍ دقلعه خورپه سیمه کې دچاپې پرمهال «یوسل اوپنځوس» تنه ملکي هیوادوال نیولي چې ۱۳۷تنه يې تروهلووروسته خوشي کړي او۱۳تنه يې دیوې میرمني په ګډون له ځان سره بندیان کړي دي.

دډسمبرپر ۳۱مه نیټه داخلي عسکرود پکتیکاولایت دجاني خیل ولسوالۍ دبابوخیل اوخنجکوکلیو دیرش تنه اوسیدونکې بندیان کړي دي ،خبرکاړي چې یادشوي کسان دولسوالۍ څخه راغلیوپولیسو داربکیزم پروسې ته دنه شاملیدوپه جرم نیولي دي.

مأخذونه:[بي بي سي راډیو ،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک ،روهي ویبپاڼه ،لراوبر= ،نن ټکی اسیا=اوبینوا=]

حامد .....

شهيدي قافلي

د مجاهد کبير شهيد مولوی عبدالرب آخندزاده رحمة الله تعالی عليه لنډ ژوندليک

شهيد الحاج مولوی عبدالرب اخندزاده د مرحوم قاضي محمد زبيررحمه الله ځوی د استاد العلماء رکن جمعيۀ العلماءافغانستان (مولوی دين محمد آخنذاده رحمه الله) لمسی ، او د مور لطرفه د مرحوم نيکنام د ملا صاحب رحمه الله لمسی و او د مشهور جهاد ي او علم ي شخصيت د پکتيا ولايت د شاه ي کوټ د جبهاتو معاون او عموم ي قوماندان صاحب الکرامات فی الجهاد ولی الله شهيد قاضی عبد الله گل رحمه الله کشر ورور وو ، نوموړی په ۱۳۸۵هق \ ۱۹۶۵ز ،کال د پکتيا ولايت د زرمت ولسوالۍ د سهاکو د شملزو په سيمه کي زيږيدلی دی، ابتدا يي عصري زده کړې يي په کابل او نور دينی تعليمات يې د هجرت په ديار(پيښور)کې په مختلفو مدارسو کې کړي دي ، وړه دوره يې په مرحوم شيخ مولو ی محمد نعيم رحمه الله (مشهور په کو ټ اخندزاده) (او د احاديثو دروه يې په ۱۴۱۴هق کال په دارالعلوم حقانيه(اکوړه خټک) کې ترسره کړې ده.

د شهيدمولوي عبدالرب رحمه الله جهاد او وظايف يې :

کله چې په ۱۳۷۳هش کال کې د طالبانو اسلامي تحريک دعاليقدرامير المؤمنين ملامحمد عمرمجاهد حفظه الله په مشری د اسلام ي نظام د قيام او د شر او فساد د ورکولو په خا طر پيل شو ،شهيد مولوي عبدالرب رحمه الله د دغه سپېځلي حرکت ملګري شو او ډيري نه ستړيکيدونکې هلي ځلې يې ترسره کړې ،عبدالرب رحمه الله د خپل قائد(امير المؤمنين) سره د دوهم ځل ملاقات پرمهال په مختلفو دندو او خد متونو

وګمارل شو او د خپلو ملګرو سره دمیدان ښار محاذ ته ولاړ، او بیا له خپل خاص ملګري شهید مولوی صاحب احسان الله احسان رحمه الله سره په خوست کې پاتې شو.

اخندزاده صاحب د شهید احسان الله احسان رحمه الله له خاصو ملګرو او مشاورینو څخه وو او په اکثرو محاذونو کې ورسره ملګری و، کله چې به نوموړی نه وؤ؛ نو اخندزاده صاحب به یې د نائب په توګه وظیفه ترسره کوله ،څه موده په چهار آسیاب کې له خپل مشر او ګران ملګري حاجي معاون صیب (ملامحمدرباني اخند) سره پاتې شوی دی ،شهیدمولوي صاحب د جلال آباد په فتح او کابل کې له خپلو ملګرو سره یو ځای اوسیده خوکله چې اسلامي تحریک کابل په بشپړه توګه ونیو، شهید مولوی احسان الله احسان د افغانستان بانک رئیس اوشهید عبدالرب رحمه الله یې معاون شو، دغه راز مولوی احسان الله احسان د کابل د لوي مسجد پل خشتي خطیب او شهید آخندزاده صاحب یې نائب او د پل خشتی دجومات امام تعین کړ،نوموړي دمسجد په تعمیراوپالنه کې ښه رول ترسره کړ، وروسته د مشرتابه په امر د قندهار د اطاق تجارت د مسؤل په صفت وګمارل شو او د شمال ترفتح وروسته دسمت شمال دبانکونو مسؤل وتاکل شو او تراخره پوري یې دشمال په مربوطاتو کې داسلامي امارت په لیکو کې ډیر زیات خدمتونه وکړل.

پرافغانستان دامریکایې صلیبي یرغل وروسته شهید آخندزاده صاحب داسلامي امارت دمشرتابه په هدایت یو وار بیاپه جهادلاس پوري کړ او شپه او ورځ یې د اسلامي امارت د مجاهدینو په نظم ،جلب اوجذب کې د پام وړنقش ولوباوه،حتی دخپلې کورنۍ میراثي جائداد یې خرڅ کړاو د خپلو جهاد ي ملګرو ، د اسیرانو دکورنیو او د یتیمانو اوکونډوسره یې مرسته کوله ، مرحوم مولوي صاحب د روان صلیبي تاړاک پرضد د پکتیکا ولایت څخه جهاد شروع کړ، د مشرتابه لخوا ورته دیادشوي ولایت د پنځو ولسوالیو (ګومل،سروبی،چهارباران ،سرحوضه ،اومنه) ولسوالیو مسؤلیت ورلغاړي وؤ.

علمیت او دیانت یې :

شهیدمولوي صاحب تکړه اوجید دیني عالم وؤ او د (تنبیه الوری عن الشریعة الغراءفی احکام اللحی) په نوم یې یوعلمي کتاب لیکلی اونشرکړی وؤ، چې د ډیرو خلکو له تود هرکلي سره مخ شو.

شهید مولوی عبدالرب آخنذاده صاحب یو ه لویه علمي اوجهادي هستي وه ،د سخاوت ،بنایسته اخلاقو اوښکلي څهرې څښتن ؤ ،الله تعالی ورته ښه پوهه او تدبیر ورکړی ؤ ، د مولوي صاحب ټول عمر په علم ،تقوی ،جهاد ،خدمت او دیانت کې تېرشوی دی.

شهید مولوي صاحب ته الله تعالی خورا عالي سخاوت ورکړی ؤ ،نومورې د الله تعالی له دین او مسلمانانو سره دهمکاری او نصرت ځانګړې جذبه او اراده درلوده.

ژوبلیده اوشهادت یې :

شهید مولوي صاحب یو ځل په ګومل او بل ځل په رباط کې شدید زخمي شو ، خوکله چې به الله تعالی روغ صحت ورکړ بیرته به د جهاد ګرموسنګرونو ته ولاړ او د اسلام او هیواد د دښمنانو پر ضد به یې ویاړمنه مبارزه کوله.

اتل شهید مولوی عبدالرب آخنذاده صاحب د سه شنبې په ورځ ۸- رجب ۱۴۳۱ هق \ ۱سرطان ۱۳۸۹ \ 22.6.2010. له صلیبي ځواکونو سره له کلک مقاومت وروسته د سرحوضې ولسوالی په مرکز (سره کوټ) کې د دښمن د سختو هوایې بریدونو له امله د شپاړسو ملګرو په ګډون په شهادت و رسید ،انا لله و انا الیه راجعون.

د شهید مولوي عبدالرب رحمه الله – شهید جسد - خپلې اصلي سیمې پکتیا ولایت زرمت ولسوالی د سهاکو د شملزو کلی ته راوړل شواو په خپله پلرنۍ هدیره کې دخپلو نیکونو او د خپل مشر ورو ر شهید قاضی عبدالله ګل رحمه الله تر څنګ خاوروته وسپارل شو ، الله تعالي دي ټولوته جنت الفردوس نصیب کړی او الله تعالي دي د ټولو شهداؤو شهادتونه قبول کړي او الله تعالی دي د دوی د وینو په برکت په افغانستان کی ژر تر ژره یو واقعي اسلامي نظام او امن و امان راولي امین !

اولادونه یې :

شهید مولوی صاحب متاهل وو ، څلور زامن او دوې لونې لري.

الله تعالی دي د دوي متکفل الامور شی او الله تعالی دي د ټولو شه یدانو او مجاهدینو او لادونه او کورنۍ په خپل حفظ او امان کې وساتي.

آمین یا رب العالمین

د قهرمان شهید مولوی صاحب محمد صدیق (طارق) ژوند لیک

شهید مولوی صاحب محمد صدیق (طارق) د خان زمان زوی او د عبدالرحمن لمسی وو، چې په کال ۱۳۵۷ ه ش کې یې د لوګر ولایت د څرخ ولسوالی دهمای کلي د ګداخیلو د قوم په یوه دیندار او غریبه کورنۍ کې دنیاته سترګې غړولې وې، نوموړی له قده میانه، غنم رنګی او د جالبې څیرې خاوند وو.

ابتدایي علوم یې د هجرت په دیار کې د هنګو سیمې په نعمانیه مدرسه کی ویلی وو، او عالی تحصیلات یې د کهی په سراج الاسلام مدرسه کی له شیخ الحدیث سمیع الله (راشد) صاحب څخه ترلاسه کړل، دوره حدیث یې بیا له شیخ الحدیث امان الله صاحب څخه ویلې وه، او سند یې هم په ممتازه درجه حاصل کړ.

له فراغت وروسته یې د لوګر ولایت په مختلفو مدارسو کی تر لوړو درجو کتابونه تدریس کړل.

نوموړی یو معتصم بالله، د ښو او زرینو اخلاقو خاوند، مبلغ، شاعر، مدرس، شجاع، باتجربه ځوان وو، د ملګرو په زړونو کی له خورا محبوبیت څخه برخمن وو، عوام او خواص له ده څخه تل خوشحاله وو، ډیر صله رحمه، د مور او پلار خادم، قرابت پاله او خادم انسان وو، د مجاهدینو د خدمت او په سنګر کی د استقامت او اخلاص یوه غوره نمونه وه...

نوموړي د اسلامي امارت په دوران کې د بیلابیلو خدمتونو ترڅنګ د لوګر ولایت د څرخ ولسوالۍ د عشروزکوة د مدیر په توګه دنده ترسره کوله، او پر هیواد له صلیبي یرغل څخه لږ مخکې بیا کونړ ته واستول سو هلته یې د ولسوال د معاون په توګه دنده پر مخ بیوله، خو چې کله صلیبي نیواکګرو پر هیواد ناروا یرغل وکړ؛ نوموړی بیا هم د سر په بیه حاضر وو خپلې سیمې ته ستون شو او د صلیبیانو په ضد یې وسلوال جهاد پیل کړ، چې په همدې ترڅ کې یوځل په ۱۳۸۴ ه ش کال د ګوډاګیو عسکرو له خوا د برکی برک ولسوالۍ په دوشیخ سیمه کې چې صلیبی یرغلګرو ته یې کمین نیولی ؤ اسیرشو، له سختو شکنجو وروسته پل چرخی زندان ته یووړل شو- دې د سنګر اتل د زندان سختې هم په پوره میړانه وزغملې، په زندان کې یې د قران کریم حفظ وکړ او د خپل بلاک د ټولو زندانیانو امام او مدرس وو، وروسته له ۲۲ میاشتو له زندان څخه راخلاص او په جهاد یې

بیا پیل وکړ چې د یوه نظامي ګروپ مشرې یې په غاړه درلوده او ورسره په کال ۱۳۸۹ ه ش کې د څرخ ولسوالۍ د نظامي کمیسیون ریس مقرر شو.

یو کال وروسته یعنی په کال ۱۳۹۰ ه ش د میزان په درېیمه نیټه د هماې د کلې په غره کې د صلیبي یرغلګرو او د ګوډاګیانو له لوري یې پر مجاهدینو چاپه ووهل سوه ، چې په ترڅ کې یې د مولوې ګل محمد حقاني صیب په شمول درې کسان شهیدان شول، د شهیدانو د جسدونو د انتقال په مهال د ماین د انفجار له امله چې وحشي ځناورو صلیبیانو د شهیدانو له جسدونو سره ایښي وو ، نوموړی سخت ټپی او دوه پښې او یو لاس یې مات شول.

نوموړی امریکایانو ته زیات مطلوب ؤ او له زیاتې مودې را هیسې یې تعقیباوو ، بالآخره په کال ۱۳۹۱ ه ش د سرطان په اتمه له سختې ګڼړې وروسته چې سهار شروع او ۹ ساعته یې دوام وکړ چې په ترڅ کې یې ګڼ شمیر امریکایان مردار او زخمیان شول ، د آبجوش په طرف روان شو د لاری په اوږدو کې د یرغلګرو جیټ الوتکو په ننبه کړ او دوه توغندې یې ورباندې وتوغول ، وروسته د دښمن چورلکې راغلې او ګذارونه یې ورباندې وکړل او مولوی صاحب محمد صدیق رحمه الله هم د شهادت داعې ته لبیک ووایه ، امریکایانو یې مبارک جسد له ځان سره یووړ ، په دې سبا یعني د جمعې په ورځ یې د قوم سپین ږیرو ته ورکړ او بیا د هماې کلې په پلارنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شو ، روح دې یې شاد او یاد دې یې تل وي. انا لله وانا الیه راجعون

د شهید محمد صدیق رحمه الله څخه یوه میرمن ، دوه زامن – احسان الله او شیرعلي او دوه ورونه – محمد زمان او محمد نور- پاتې دي.

قهرمان شهید قادرخان

هرڅوک په عامه توګه خو پښتانه په خاصه توګه دنارینه اولاد په زېرېدو زیات خوشالیږي حاجی قاسم ګل هم دهغو له جملې څخه و چې په دیارلس سوه پنځه دیرشم 1335 کال دخوست ولایت منګلوقوم موسی خېلو ولسوالی دڅېري په کلي کې الله تعالی یونارینه ماشوم دده په کورکې دنیاته راوړ حاجی قاسم ګل چې له ډېرې خوشالۍ دچاخبره په جامو کې نه ځاییده پخبل ماشوم اومعصوم زوی یې بې له ځنډه (قادرخان) نوم کېښود ، تنکی قادرجان په دیندارہ کورنۍ کې دنیاته راغلی و نو اووه کلنۍ کې یې دخپلې منقطې په

ښوونځي کې ترشپږم ټولګی پورې زده کړه ترسره کړه، لکه څومره چې قادرخان سره دطالبی شوق وؤ دکورونیو مشکلاتو سره سم بیاهم قادرخان دمندوزیو په کلي کې دملا امام نه علمي کتابونه شروع او یوه حدته ورسول ، خو دتورې کرغېړنې کودتا په راتلو قادرخان هم غمجن اودجهاد اوریې په سینه کې په لمبوو زده کړې یې معطلې کړې اودروسی وحشیانو مقابلې لپاره میدان ته ودانګل چې د 1359 کال سره سمون لري په انفرادي شکل په وسلوال جهاد پیل وکړ ، دوخت په تېرېدو جهاد هم یومنظم شکل اختیارکړ د 1362 کال نه وروسته قادرخان دالحاج مولوي شهید عتیق الله سره یوځای شو کوم چې دمجاهد کبیر الحاج مولنا جلال الدین " حقاني " حفظه الله ترقیادت لاندې نوماند قوماندان و ، دنوموړي له شهادت وروسته دهغه دوصیت او دحقاني صاحب په امر قادرخان ته دشمالي محاذ عمومي مسؤلیت ورپه غاړه شو ، ښاغلی قادرخان چې په حاجی قادرخان یې شهرت درلود په دې محاذکې ښه وځلېد هرسنګر یې دنورو مجاهدینو په څېر په شجاعت او مېړانه فتح اوترکابل یې ځان ورساوه.

دیادونې وړ ده چې پخپل منځي جنګونو کې یې برخه نه درلوده بلکې عادي ژوند یې اختیارکړ هرکله چې په افغانستان داسلامي امارت سپینې وړانګې خپرې شوې نوموړی هم ددې کاروان ملګری شو په پوره مېړانه او اخلاص یې خپل خدمت ته دوام ورکړ چې دبولدک، سروبي، پنجوایي په ولسوالیوکې دولسوال په حیث اودغه راز نورې دندې هم ترسره کړې.

په وروسته کې حاجی قادرخان علمي تلوسې دعلم ترمراکزو بیا ورساوه اوخپلې نیمګړې زده کړې یې پوره کړې په 1385 ل کال یې دپښتونخوا دچارسدې په اتمانزو کې وړه دوره وکړه دغه راز یې لویه دوره په ټل عربیه دارالعلوم کې ترسره او له دیني مروجه علومو فارغ شو

له فراغت سمدستي وروسته یې دامریکایی یرغل په وړاندې خپل جهادته بیاادامه ورکړه ، په دې لاره کې یې نه هیرېدونکې کارنامې ترسره اوهیڅ راز قرباني ونه سپمولې تردې چې په 9/5/1433 نېټه دشهادت لوړ مقام ته ورسیده.

روح یې ښاد یاد دې تل وي

دایمان شُعبې

مولوي عصمت الله عزام:

عن ابې هريرة رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الايمان بضع وسبعون شعبة فافضلها قول لااله الاالله وادناها اماطة الاذى عن الطريق والحياء شعبة من الايمان (متفق عليه)

له حضرت ابوهريره رضى الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دايمان څواويا څانګې دي ترټولو غوره (لويه) څانګه يې لااله الاالله اقرارکول دي اوترټولووړه شعبه يې له لارې دتکليف ورکوونکې شي لرې کول دي اوحياء هم دايمان يوه شُعبه ده (بخارې اومسلم)

تشريح: په دي حديث شريف کې دايمان شُعبې څواويابلل شوې دي، خو په بل روايت کې څوشپيته بللشوې دي. ددې احاديثو تطبيق داسي دى چې کله کله هره يوه جلا شمارل شوې ده نوځکه زياتي شي اوکله بعضي په بعضو کې داخلې کړې دې ددې حديث مبارک کې دايمان درې شُعبې بيان شوې دي چې يوه يې اعلى اولوړه ده چې هغه دلااله الاالله وينابله شُعبه ترټولو وړه ده: اماطة الاذى عن الطريق. يعني له لارې دداسي شي لرې کول چې چاته تکليف رسوي لکه ډبرې ،ازغي ،خښتي اوداسې نور...داکارکه څه هم خلګوته ډيرمعمولي ښکاري ،له همدې امله عمل کوونکې هم وربانديې کم دي،خوليکن دادايمان شُعبه ده اوبايد عملي کړل شي.

نومطلب دادى چې په دي حد يث کې دا يمان درې شعبې بيان شوې چې يوه يې اعلى،بله يې متوسطه اوبله يې ادنى ده.

دايمان ټولې (۷۷) اوه اويا شُعبې په نورواحاديثوکې ذکرشوي دي.

په دي خبره هيڅ دعقل خاوند اختلاف اوشک نه لري چې په دُنيااوآخرت کې فلاح اوکاميابى ته يوازې هغه څوک رسيدلى شې چې هغه په ځان کې دايمان اوصاف راوستلې وي اوځان يې په ايمان پوه کړى اودايمان ټولې شُعبې يې په عمل کې راوستې وي.

نو هر مسلمان باید دایمان شعبې زده او عمل ورباندې وکړې، ددې لپاره چې ددُنیا او آخرت نېکمرغي او سرلوړي مومپه برخه شي. له دې امله مورږ دلته دایمان ټولې هغه شعبې په لنډول لیکو چې کومې دمختلفو احادیثو څخه علماؤ راایستلې دي.

ځینې شُعبې دزړه سره تعلق لري، ځینې دژبې سره او ځینې دبدن سره. همدارازځینې دځان سره او ځینې دټولنې او عوامو سره. دزړه سره تعلق لرونکې شعبې:

دادېرش شعبې دي:

۱: پرالله تعالی ایمان: په دې کې دالله تعالی په ذات، صفاتو او توحید چې دده په څېرهیڅ شی نه دی، ایمان راوړل داخلېږي(په داسې عقیدې سره چې الله تعالی ددې عالم ساتونکی، پیداکوونکی، إله اومعبوددی. دالله تعالی سره په دې کې هیڅ ډول شریک اودبرخې خاوند نشته، نه په پیداکولوکې، نه په پالنې اوچلولوکې. الله پاک هرڅه اورې او په هرڅه خبردی، دسینو په خبروهم پوه دی، نه په زمکه کې یوشی ترې پټیدای شي اونه په اسمانو کې. الله تعالی دکمال، عزت، جلال، جمال، او دلویې په صفاتو سره متصف دی. الله تعالی اسماء حسنی(ښائسته نومان)لري. لوی لوی صفات لري. دالله پاک صفات دچاسره ورته والی اومشابهت نه لري لکه څنګه چې یې ذات دنورو ذواتو سره مشابهت اوورته والی نه لري. مورږ دالله تعالی په ټولو نومانو او اوصافو ایمان لرو لکه څنګه چې الله تعالی دځان لپاره بیان کړې دي اویاهم دالله پیغمبرصلی الله علیه وسلم دالله په هکله بیان کړې وي).

۲: په دې خبره ایمان لرل چې دامخلوقات ټول حادث اودالله تعالی مخلوق دي.

۳: په ملایېکو ایمان راوړل

۴: په ټولو اسماني کتابونو اوصحیفو ایمان راوړل.

۵: دالله پاک په ټولو پیغمبرانو علیهم الصلاة والسلام ایمان راوړل.

۶: په دې خبره ایمان راوړل چې دخیراوشرتقدیردالله لوري دی

۷: دقیامت په ورځ ایمان راوړل، په دې کې په قبرکې سوال، دقبرعذاب، پس له مرګه راژوندي کېدل، دالله حضورته راغونډ ېدل، دبندګانو سره دحساب کېدل، داعمالود تللو لپاره ترازو اوپل صراط دټولو منل داخلېږي.

۸: په جنت اودجنت په همېشوالي ایمان راوړل.

۹:په دوزخ اوددوزخ په همېشوالي ايمان راوړل اوپه دې چې په جهنم فنانه راځي.

۱۰:محبة الله(دالله تعالی سره محبت کول)

۱۱: الحب في الله والبغض في الله:

خالص دالله پاک له امله دچاسره مينه کول اودالله پاک له امله دچاسره بُغض کول.

په دې کې دمهاجرينو اوانصارو ټولوصحابه کرامورضی الله عنهم اودنبي عليه السلام داهل سره محبت کول داخلېږي.

۱۲: درسول الله صلی الله عليه وسلم سره(تربل هرچازيات)محبت کول.

په دې کې په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندي درودويل اودده دسنتوتابعداري کول هم داخلېږي.

۱۳:اخلاص:په دې کې درياء(ځان ښودني)اومنافقت پرېښودل هم داخلېږي.

۱۴:توبه اوپښېمانتيا(په خپلوگناهونوباندي)

۱۵:خوف(دالله پاک څخه دزړه وېره چې په ظاهراوباطن دواړواثروکړي)

۱۲: رجاء.يعني دالله پاک درحمت اميدلرل.

۱۷(له الله جل جلاله څخه)دناأميدۍ پرېښودل.

۱۸:همېښه دالله پاک شکرونه کول.

۱۹:په وعده وفاداري کول.

۲۰:صبرکول.

۲۱:تواضع:يعني له زړه څخه عاجزي کول اوځان ترنورو کم بلل.

عاجزي يوازي دانه ده چې په خوله سړی دعاجزی الفاظ ووايي.

په دې کې دمشرانوعزت اودرناوی کول هم داخلېږي.

۲۲:(دالله تعالی پر ټولومخلوقاتو)رحمت اوشفقت کول،په دې کې پرکشرانوشفقت اومهرباني هم داخله ده.

۲۳:په قضاء اوتقديرباندي راضي کېدل

۲۴:پر الله تعالی توکل کول.

(دیادوني وړده چې توکل دکارلپاره داسبابو دپرېږدولو په معنی نه دی بلکې اسباب استعمالول اونتیجه يې الله ته سپارل دي)

۲۵:ترک عجب:له خود پسندی اوځان خوښوني څخه ځان ساتل.په دې کې دځان دستاینې اوپاکوالي بیانولو پرېښودل هم داخلیږي.

۲۶:ترک حسد:دحسد اوکینې پرېښودل.

۲۷:د مسلمان سره له دښمنی کولو ځان ساتل.

۲۸:ترک غضب:یعني په دُنیوي کارونوکې له غصې څخه ځان ساتل.

۲۹:ترک غش:له بدخواهی اودوکوڅخه ځان ژغورل.

په دې کې له بدګمانی اومکر(چم)څخه ځان ساتل هم داخلیږي.

۳۰:ددُنیادمحبت پرېښودل ددُنیاددووشیانو پرېښودلوته زُهدویل کېږي:دمال محبت اودمرتبې اواقتدارمحبت.

اوس هغه شُعبې لیکوکومي چې دژبې سره تعلق لري،هغه اوه شُعبې دي.

۳۱:په توحید سره تلفظ کول(همدارازدنبي علیه السلام دپیغمبرۍاقرارکول)

۳۲:دقرآن کریم تلاوت کول.

۳۳:ددیني علم تعلم اوزده کړه کول(ځکه علم هم نور(رڼا)ده،ایمان هم نوردی،دواړه سره لازم دي)

۳۴:تعلیم دین:یعني ددیني علم بل چاته ورښودل.

۳۵:دُعاء کول:(مؤمن به دالله تعالی څخه د خپلوحاجتونودحل لپاره دُعاګاني غواړي)

۳۶:دالله تعالی ذکرکول،په دې کې استغفارهم داخلیږي.

۳۷:اجتناب لغو:له عبث اوبې فائدې خبروڅخه ځان ژغورل.

داوه شُعبې دژبې سره تعلق لري،اوس هغه شُعبې دبدن دنورواندامونوسره اړیکه لري،هغه ټولې څلوېښت دي،چې شپاړس يې دبنده ذات سره تعلق لري،شپږيې دبنده د کورنۍ، اولاداوخادمانوسره تعلق لري اوپاته اتلس شُعبې دعامومسلمانانوسره تعلق لري:

د بدن سره تعلق لرونکې ایماني شعبې

۳۸:طهارت:پاکوالی:په دې کې دبدن،جامو،ځای ټول طهارتونه داخلیږي.

اودبدن په پاکوالي کې له بې اودسې څخه اودس کول، له جنابت، حیض او نفاس څخه غسل کول(او تیمم داوبو نشتوالي په وخت کې کول) داخلېږي.

(همدارازباطني اوظاهري دواړه صفایئ ضروري دي).

